Ketabton.com

د پښتو ټولنې د خپرونو
پرله پسې لمبر :(۱۸۹)

# دافغانستان ملي ژبه

او

# ادب

PROPERTY OF ACKU
1491

ليکونکی : استاد اسلانوف او ميرمن
ګراسيموو ا

مترجم : محمد معتمد شينواری

د طبع شمېر : (۱۰۰۰)

# دلوی خدای په نامه

## یو خو خبری

پښتو دافغانستان ملی اورسمی ژبه ده، کومه ژبه چه دویونکو شمیریی په یوهیواد کښی زیات وی؛ هغه ملی ژبه گڼل کیږی .

په افغانستان کښې دپښتو ژبې دویونکو شمیر په سلو کښی شپیتوته رسیږی اوهمدغه وجه ده چه‌له پخوانو زمانو څخه پښتو ژبه ددې هیواد دملی ژبې په نامه پیژندل شوې‌ده.

دافغانستان دنوی اساسی قانون په (۳۵) ماده کښې‌هم دپښتو دغه تاریخی حیثیت په رسمی‌توگه ومنل شواود۱۳۴۳ کال دلویې جرگی له خوا هم تصویب شو .

دنړۍ نوميالي ختيځ پوهان‌هم دغه حقيقت مني او پښتو دافغانستان دملي ژبې‌په نامه يادوي. لکه چه دشوروي اتحاد يونوميالي ختيځ پوهاند ښاغلي اسلانوف‌په خپله اوږده‌څيړنه کښې چه دپښتو په بــاب يــې کــړې‌ده پښتويي د افغانستان دملي ژبې‌په نامه بللې‌ده. ښاغلي اسلانــوف په مسکــوکښې دپښتو ژبې يومشهور استاد اوپوهاند دی‌چه له ديرشو کالو راسې دپښتو اوپښتنو په باب په علمي پلټنو اوڅيړنو بوخت دی، ډيرکتابونه اورسالې يې ليکلي دي اوپښتويې پــه ډيره ښه توگه په روسي ژبه دنړۍ اوخپل هيواد پوهانوته معرفي کړې ده .

دده لوی کار دپښتو اوروسي ژبــې ديولــوی قاموس ليکل دي چه نژدې (۵۰) زره لغات پــکښې راغــلي‌دي، دي دروښانيانواودپښتنودکلتور په باره کښې‌هم ځيني رسالې لري، يوه وړه رساله يې دپښتو دجــوړښت، غږونو اوکــلمو دپيژند گلۍ په باره کښې هم ليکلې ده چه دپښتو ترجمه يې

اوس دیونوی سوغات په توگه دپښتو مینانوته په ډیره مینه ورانديې کیږی .

دارساله دپښتو ټولنی یومسلکی غړی ښاغلی محمداکبر معتمد شینواری له خوا ترجمه شوې ده. ښاغلی معتمد له لسو کالو راسی دپښتو ټولنی یوعلمی کاریگر غړی دی اوروسی ژبه یې په ښه توگه زده کړې ده .

دپښتو اوپښتنو په باره کښې له شوروی آثاروڅخـه دده ښې ښې ترجمې دکابل په مجله کښې همیشه خپریږی .

اوس یې دافغانستان دملی ژبې په نامه دښاغلی اسلانوف یوه وړه رساله له روسی څخه په خپله ملی ژبه پښتوترجمه کړه اودپښتو ټولنې دمسلکی مجلس په تصویب دنشرمیدان‌ته راووتـلـه .

لکـه چه ښکاره ده ددې کتاب دوهمه برخه دپښتوادب اوپښتنو لیکوالو دمعرفی په باره کښې‌ده چه دغه برخه‌دمیرمن گراسیمووا له خوا لیکل شوې‌ده، په دې برخه‌کښې که څه‌هم دپښتوادب پوره څیړنه نه ده شوې خوپه لنډ ډول وربـاندې

يوخه رڼاڅول شوې ده. دابنکاره ده چه دپښتوادب اودهغې دليکوالو خيړنه پوره خيړنه اوزياته پلټنه غواړی اوداکار په يوخو پاڼو کښې سرته نه شي رسيدلای .

په هرصورت‌مونږ دښاغلی‌اسلانوف اوميرمن گراسيموو‌ا دغې خيړنې اوله پښتو ژبې اوادب سره‌ددوی مينې‌اوعلاقی‌ته دقدر په سترگه گورو اوښاغلی معتمدته ددې اثـرپـه پښتو کولو اوترجمه کولو دزړه له اخلاصه کور ودانی وايو .

(رشتين)

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پیل

دا اثر دشوروی اتحاد دعلومو داکاډیمۍ دآسیایی ملتونو دانستیتوت له خوا په روسی ژبه په دې وختوکښې چاپ شوی دی اودوې برخې لری، لومړۍ برخه یې (دافغانستان ملی ژبه) اودوهمه برخه یې (دافغانستان ادبیات) دی، د لومړۍ برخی مولف استاد اسلانوف دی اودوهمه برخه میرمن گیراسیمووا لیکلې ده، څه رنگه چه دغه دواړه برخې نوی اوپه زړه پورې معلومات لـری نوماپه روانـه ژبه تر جمه کـړې او گـرانو لوستونکوته یې وړاندې کـوم چه دوی وگـوری چه شوروی عالمان اوپوهان زمونږ دژبـی اوادب په بـاره کښې څو مره معلومات لری .

په لومړۍ برخه کښې زمونږ دملی ژبې پرمختګ، ددغې

ژبی‌لهجې، ددغې ژبې‌دویونکوشمیر، گرامراونور خصوصیات یې بیان شوی دی اوهم ددغې ملی ژبې دوروسته پاتې کیدلو علتونه ښودل شوی دی .

په دوهمه برخه کښې دافغانستان په ادب پوره رڼاچول شوې ده اودځینو افغانی ادیبانو بیوگرافی، اوخه خصوصیات پکښې راغلی دی اوهم افغانی ادب تریوحده څېړل شوی دی.

مونږ دلوستونکونه هیله کووچه دغه دواړه برخی ولولی اودنورو خلکو په نظریاتو باندې چه زمونږدژبی اوادب‌په‌برخه کښې یې لری ځان پوه کړی .

داهم باید وویل شی چه ښاغلی محمدشیرین «سنگری» او اسدالله «لودین» ددې رسالې په تصحیح اوصحافت کښې پوره زیار ویستلی دی‌چه زه ورته په‌قدر گورم .

م ـ معتمد شنواری

(c) ketabton.com: The Digital Library

PROPERTY OF ACKU 1491

# دافغانستان ملی ژبه

دملی ژبو جوړښت چه تل دقومونو په تشکیل اوپرمختګ پورې اړه لری یوګران خرکت اودروند کار دی، داحرکت په خپل ذات کښې ډیر نظری اوعملی اهمیت لری اوزده کړه یې دهرچا یعنی دژبپوهانو، دژبو دمورخینو، دبشرپېژندونکو اوادیبانو دپاره ضروری اومهمه ده .

په دې لسو وروستیو کلونوکښی شوروی فلالوجستانو دملی ژبو دجوړښت او تشکیل په میدان کښی ډیر کار کړی دی اوداموضوع یې پوره څېړلې ده، داملی ژبې چه کار پکښې شوی دی یوازې دشوروی دخلکو ملی ژبې نه دی بلکه دخارجی قومونو ملی ژبې هم پکښې شاملې دی .

دیوقوم دژبې دپراختیا اورواج سوال یومهم اوګران

سوال دی مگر دیورپ دځینو ژبو په باره کښې چه زیاته‌پنګه لری اوډپخوانیو او منځنیو پېړیو لیـکلی آثـاریې موجود دی اوهم یې دلـچو په برخه کښې اوس اوپخوا ډیر کار شوی‌دی لکه روسی، جرمنی، انګلیسی، فرانسوی اوایټالوی ژبې دغه سوال نسبتاً آسان دی، دایشیائینی ژبې‌چه پورتنی صفات لری لکه چینی او جاپانی ژبــې د هغو مسئله‌هــم آسانــه ده، خو نورې ژبې‌چه دارنګ‌نه دی دهغو دپراختیا اورواج‌پوهېدنه څه قدر سخته غوندې ده .

ځینې سببونه دی‌چه دژبو مسئله یې لاسخته کړې ده‌چه هغه په دولتی کرښو سره په دوه یادرې برخو باندې دیوملت ټوټه کېدل دی. داکار دپښتنو اوددوی دژبې‌سره بیخی‌سمون خوری. (۱)

---

(۱) که هېواد او قوم سره مطابقت وخوری دداسې قوم دملی ژبې زده کړه آسان کار دی اوکه مطابقت سره ونه کړی نوبیا داکار ګــران دی. مثلا افغان یــاپــه بل عبارت پښتون دافغانستان سره مطابقت نــه خوری ځــکه نژدې نیــم افغان دافغانستان نه وتلی دی چه دې کــار ددغه قوم دملی ژبــې دزده کړې اوپرمختګ په لار کښې سختی پېښه کړی ده .
(مترجم)

دتېرو پنځه ویشتو کلونو په موده کښې چه زه دپښتنو فولکلور او ادبیات مطالعه کوم، دپښتو لوی قاموس ترتیبوم، گرامریې لیکم اوهم یې دتدریس په کار بوخت یم زما زړه وغوښتل چه دملی ژبې پښتو دجوړښت اوتشکیل په باره کښې هم مشغول شم، ددې کار ابتدایی نتیجې ماپه لنډ ډول سره په هغه کتاب کښې چه د (لوېدیځ آسیا خلك) نومېږی لیکلی دی اوهم مې په پنځه ویشتم بین‌المللی کانگرس کښې چه د ۱۹۶۰ داگست په میاشت کښې په مسکو کښې جوړشوی ؤ (دپښتو دملی ژبې دتشکیل تاریخی‌شرطونه) توضیح‌کړی‌دی.

زما دا اوسنۍ لیکنه زما دنورو لیکنوپه څېر په اساسی ټکو رڼا اچوی اودمسایلو ځینی ډېر سخت اړخونه راسپړی، زما دالیکنه دراتلونکو علمی پلټنو اوڅېړنو د پاره اساس کېدای شی خو دپوره‌حل دپاره‌بایددامسایل دافغانی‌ژب‌پوهانو ټولنی ته وړاندی شی .

ددې رسالې په لیکلو کښې ما دځینې افغانی لیکوالو دآثارونه استفاده کړې ده چه په لوېدیځ وارکښې دافغانستان

دمشهور لیکوال گل‌پاچا الفت اودپښتو داکاډیمۍ د رئیس
پوهاند صدیق‌الله رښتین آثار دی .

پخوا له دې چه درسالې په اصل موضوع پیل وکړم
باید دوه سواله چه مهم دی وړاندې کړم :

لومړی داچه باید پوه شوچه ملت یاقوم وار دوار
نه جوړیږی لومړی په اقتصادی، سیاسی اوکلتوری مرکز
کښې دملت یاقوم زړی زرغونیږی بیاورو ورو نژدې‌اوورپسی
لرې برخې‌ورسره یوځای کیږی چه په دې شان دملت‌جوړښت
منځ‌ته راځی، باید دملت (تشکیل اوپرمختګ) یوشی‌ونه‌ګڼل
شی ځکه تشکیل اوپرمختګ دوه جلاجلا مفهومونه لری .

دوهم داچه دافغانستان په شرطونو کښې دولتی ژبې
دقوم په جوړښت کښې دومره اهمیت‌نه لاره څومره‌چه‌اجتماعی
اواقتصادی عوامل یې لری .

دهمسایه هېوادونو تاثیر باید نفې نه شی مګرنه دومره‌چه
دافغان ملت پرمختګ دنورو ګاونډیو زیات تأثیرته منسوب
وبلل شی لکه چه داکار د (ریسنر) په مقاله کښی شوی‌دی،

ریسنېر پــه خپله مقاله کښې پــه دې خبــره زور اچولی دی اودنورو دتأثیر یودلیل دا بولــی چــه له ډیرې زمانی راسی دافغانستان رسمی ژبه فارسی وه، مــگر داخبره سمه نه ده، افغان ملت دنورو دتاثیر لاندی نه دی راغلی ځکه دافغان‌ملت دکلتور زده کړه دابنکاره کوی چه دا ملت خپل ځــانله ملــی خصوصیات اوجلا خواص اوممیزی لری‌چه دنورو تاثیرپکښی نه لیدل کیږی .

مشهور شوروی موزیك پو هــا نــد پروفیسر بیلیایف په‌خپل هغه کارکښې چه دافغان دملی موزیك په باره کښې‌یې کړی دی داسی لیکی: داقوم خپل داسې ملی خپلواکی موزیك لری چه دنورو تاثیر پکښې نشته .

قوم جوړیدای او تشکیلیدای شی خوکــه په خپله ژبــه وگړیږی، دقوم په تشکیل اوجوړښت کښې داخبره شرطنه‌ده چه ددغه قوم ژبه دی دولتی وی (وگــوریء چه په اتــریش، مجارستان، هندوستان، پخوانی روسیــه اونورو هېوادونــو کښې چه قوی قومونه جوړ شوی دی دولتی ژبه پکښې

يوه وه مگر كه دغه دقوم ژبه دولتي شي نوداكار ددغي ملي ژبې دانكشاف اوپرمختګ سره كومك كوي، هغه كارچه‌په‌دې ژبه كښې روان وي هغه تيزوي اودملي كلتور هغې پانګې ته چه دژبې سره كلك ارتباط لري پوره وده او مرسته وركوي لكه: هنري ادبيات، مطبوعات، تياتر، راديو، سينما، مكتب اوموزيك. له دې كبله ويلاى شوچه ددولتي ژبې په حيث‌دبلې ژبې وجود دقوم اواولس دجوړيدو په لاره‌كښې خنډنه شي اچولى مگر په زياته اندازه دقوم دپرمختګ اومزبوتيا په لاره كښي بنديز پيدا كوي .

داچه دملت او اولس دژبې په ځاى بله ژبه دولتي‌كيږي دادپخوانو فيوډالي عصرونو اووختونو خاصه ده، حتي‌په دغو عصرونو كښې كيدا شي چه مړه اوله منځه وتلې ژبه هم دولتي شي .

كوم علتونه چه دافغان ملت دجوړښت اوپرمختګ‌مخه‌يې نيولى ده يويې په ۱۹قرن كښې ددغه ملت ټوټې كيدل اوپه دوه برخو ويشل دي‌چه داكار د استعماري عام سياست نتيجه ده.

ددوو جنګونو نه وروسته په ۱۸۹۳ کال کښې انګلیسانو ډېورند دتړون له مخه افغانستان دسمندر داستفادې نه محروم کړاویوه برخه ځمکه‌یې ورنه جدا کړه اوهمېي داسې لوبه جوړه کړه چه په دې وروستیو اتلسو کلو نو کښې یې دافغانستان او پاکستان مناسبات سره خړپړ کړل .

د ۱۹۱۹ کال نه وروسته چه افغا نستان ددوه (انګلو ـ افغان) جنګونو په نتیجه کښې خپلې خپلواکۍ ته ورسید په دغه هېواد کښې دملي اقتصاد چارې ګړندۍ شوې.

داقتصادي اوکلتوری مهمو مرکزونو لکه کندهار اوکابل نفوس په ډیرې چټکۍ سره زیاتیږی . په دې وروستیو پنځه ویشتو کلونو کښې دکابل داوسیدونکو شمېر د یولك اوشلو زرو نه درې لکو اولسوزروته رسیدلی دی. یعني تقریباً یوپه درې زیات شوی‌دی اودکندهار اوسیدونکی له شپېتوزرو نه یولك اوپنځه نوی زروته رسیدلی دی یعنی څه دپاسه درې چنده زیات شوی دی (د ۱۹۵۸ کال احصائیه) .

دهېواد دعام اقتصادی چلښت له کاروان سره دهېواد

لرى اوگوښه درې لکه د کـونړ او اریوب درې سمې روانـې شوې دی .

داریوب (ځاځیو) په باره کښې افغانی لیکوال محمدحکیم اریوبی لیکی:

داریوب او سیدونـکی قوم (ځاځـی) پخوا پوونـده ؤ، کسب یې مالداری وه، مګر د (۱۹۱۹) کال نه وروسته ددغه قوم ډیرو نماینده ګانو دلرګیو اوځنګلونو په تجارت شروع وکړه چه کابل ته دځاځیانو دیوې لویې برخې دراتګ اواوسیدانې یوعلت همدا دی .

ویلای شوچه افغان قوم په اوسنی وخت کښې اساساً سره راټول شوی اوتشکـیل شوی دی خـولا نورهم د دوی دراټولیدو کاروبار روان دی .

کابل مجله په خپلې ٤٧٨ ګڼه کښې لیکی: (دافغانـی ټولنې دتاریخی کتنې اوڅیړنې نه دا څرګندیږی چه افغانـی ټولنه قدم په قدم دفیوډالی خواص پریږدی اودسرمایه داری دانکشاف په لار روانه ده، داتګ یې نسبت پخواته ګړنـدی

اوتېزدی، داټولنه دبدلون په حال کښې ده مګر په اوسني وخت کښې دا دبدلون حرکت دپخوا نه ډېرګړندی اوتېزدی).

همدا راز کابل مجله په خپله ٤٩٢ ګڼه کښې لیکي:

دافغانی ټولنې دپراختیا پخوانۍ مرحله دملاکۍ مرحلې ته ورته وه او اوسنۍ مرحله یې دملاکۍ ټولنې نه دسرمایه‌دارۍ خواته دبدلون مرحله ده، داچه له‌کوم وخت نه افغانی ټولنې په دې موجوده دورې شروع کړې ده داخبره هم ښکاره ده، دخپلواکۍ دګټلونه وروسته دادوره شروع شوې ده .

دختیزو اریایی ژبو په منځ کښې پښتو ترټولو لویه اوپراخه ده، په دې ژبه ترڅورلسو ملیونو زیات (١) خلك ګړیږی، ددې خلکو هېواد افغانستان او پښتونستان دی، داخلك که په افغانستان کښې اوسیږی افغانورته وایی اوکه دپښتنور، ډیره اسمعیل خان اوبلوچستان په ولایتونو اوپه شمالی آزادو سیمو کښې چه دافغانستان په اوږدو کښې پرتې دی اوسیږی پښتانه ورته وایی .

---

(١) دپښتو ژبې ویونکی اوس شلو ملیونوته رسیږی .
(رشتین)

دبونیر په سیمه، دپېښور په ځمکه اودسوات اودیـر
په نوابیو کښې یوسف زی قومونه اوسیږی چه شمېریې اته
لکه خلك دی .

دمومندو قوم چه شمېریې ددری لکو په شاوخوا کښې
دی په دری برخو ویشل شوی دی:لومړی برخه یېدافغانستان
په ننګرهار کښې اوسی، دوهمه بـرخه یـې آزاده خاوره ده
اودریمه یې دپېښور په سیمه کښی مېشته ده .

خلیل چه دوی هـم دپېښور په سیمه کـښې او سیږی
مومندوته په لهجه اوقوم کښې ورنژدې دی .

د شینوارو قوم په دوه برخو ویشل شوی دی یوه برخه
یې دافغانستان په خاوره‌کښی اوسیږی‌اوبله یې دپښتونستان
په ځنډو کښې استوګنه لری .

دمومندو ښه سویلی خواته دخیبر ددرې په سیمه‌کښې
داپریدیو لوی قوم پروت دی، ددې قوم شمېر دوه نیم لکه‌دی،
دوی سره دجنوب له پلوه ورکزی همسایه ګان دی‌چه دوی‌هم
دوه نیم لکه خلك دی .

دخټکو قوم چه د افغان په تـاریخ کښې شهرت لـری

داباسیند په بنی غاړه پروت دی، ددوی شمېر درې لکه دی، ددوی سره په خاوره اوژبه‌کښې نژدې خلك بنوڅي دی.

وزیر اومسعود دوزیرستان په پراخی کښې اوسیږی، دوی څلور پنځه لکه خلك دی، ددوی یوشمېر خلك دنورو پښتنو قبایلو غوندی په افغانستان کښې اوسیږی.

دپښتنو قومونو په ډیر لوی گروپ درانی کښی‌بارکزی، پوپلزی، الکوزی ، اڅکزی، نورزی ، اسحاك زی اوالی‌زی ورگدیزی، داخلك دوه ملیونه دی، دا گروپ د افغانستان په لویدیزه برخه کښې اوسیږی، درانی دافغانستان په ټولو ښارونو کښی‌مېشته دی، دوی دمملکت په دولتی چوکیو اوعسکری بستونوکښی غټه برخه لری، داڅکزیو یوه برخه دبلوچستان په شمال کښې اوسیږی .

بل مهم گروپ دغلجی قومونو دی، ددوی شمېر یونیم ملیون‌دی،دوی دکندهارله علاقې نه نیولی ترنورستانه پوری اوسیږی، ددوی یوه برخه کوچان دی‌چه په ژمی‌کښی کوزی پښتونخواته ځی .

دکاکړو قوم دهغو ځمکو په جنوب کښې اوسی په کومو کښې چه دورانی اوسیږی اوهم دبلوچستان په شمال کښې مېشته دی .

ساپی قوم په ننگرهار کښې اوسیږی اوزوریې په دغه ځای کښې دی.

ځاځیان، منگل اوځدران دپکتیا په ولایت کښې‌اوسیږی، داولایت پخوا جنوبی ولایت نومیده .

برسېره په دغو پورته قومونو نور ډیر پښتانه قومونه او اولسونه شته .

پښتانه دافغانستان دټولو اوسیدونکو په نسبت‌په سلو کښې شپېته دی اوځرگند اکثریت لری .

کوچانو کلیوالی ژوندته ترجیح ورکړې‌ده اودا دبدلون دوره روانه ده، دزراعت دښه سیستم اودوچو ځمکو داوبو لاندې کولو له کبله دکروندې نوې ځمکې منځ ته راغلی دی.

ډیرو قومی خلکو خپلې اصلی ځمکې‌چه خوییږی ورکښې اوسیدلی دی پرې ایښې دی، ښارونو اویانورو سیموته تللی اوهلته مېشته شوی دی .

دځمکو لړوالي ډېر پښتانه مجبور کړي دي چه ښارونو ته لاړشي اوهلته لاس مزدوري وکړي، ډېر اطرافي خلك په ښارونو کښې دودانيو، دکـارخانو اوفابريـکو په کـارونو لګيا دي .

دمملکت په شمالي برخه کښې دپـنځه ويشتو کـلونو راهيسې دپومبې دپراختيا له کبله دکندوز ښار په نوي ډول جوړشو، په دې وروستيو کلونو کښې دابښار نور هم پـراخ اولوی شو اواهميت يې زيـات شوی دی، دابښار دشيرخـان دبندر سره چه دشوروی اتحاد په کومك آباد شوی دی نژدې پروت دی، دښار ډېره برخه پښتانه دي اود زاخيلو، ناصرو، لوديانو، اتمانزيو، خروټو اودوتانيو له قومونو څخه دي.

ناصر اوخروټي دتل دپاره مالدار وو اوکوچاني ژونديې درلود مګر مونږ وينو چه کوچي پښتانه قومونه اوس دبدلون په حال‌کښې دي، دکوچاني ژوند نه کليوال ژوند غوره بولي اودښارونو هستوګنې ته راګرځي .

څه رنګه چه دکندوز نفوس مختلف خلك دي اوهر قـوم

لکه تاجك، ازبك، ترکمن اونور پکښې اوسیږی نــوپه پښتو ژبه کښې نورلغات هم راننوتــی دی ، مثــلا افغانی لیــکوال نظام‌الدین تهذیب په خپلې هغې مقالی کښې چه د(کندوزسره آشنا شیء ) ترعنوان لاندې یې لیکلی‌ده اوپــه ۱۹۵۹ کــال کښې د کا بل مجلې پــه ٤٧٨ گڼــې کښی چــا پ شوې ده داسی لیکی :

دکندوز پښتانــه جالــې ته قایق وایی حال دادی چــه پښتو خپل لغت ورته لری، دترکمنانو سره دمحاورې‌اوراشه اودرشه له لارې نه دمملکت په شمالی برخه‌کښې پــه پښتو کښې د (دشلمه) کلمه استعمالیږی .

دپکتیا خلك چه دمملکت اقتصادی ژوند سره آشناشوی دی دکابل په لور ددوی راتگ اوهجرت لیدل کیږی اودځنگل اولرگیو تجارت کوی، مثلا په کابل کښې اوس خلورزره‌کوره ځاځیان اوسیږی چه پنځلس زره مېږه ورنه جوړیږی .

دنمارکی انسان‌پیژندونکی (فېردیناند) چه افغانستان‌ته دپښتنو کوچانو دژوند سره د آشنا کېدو پــه غرض تللیؤ داسې لیکی :

دلغمان اوسیدونکی په اوسنی وخت کښې په قومی لحاظ گډوډ دی، په دغه سیمه کښې درې توکمه اوسیږی، یوتوکم یې په (پشیی) خبرې کوی اونور دوه یې پــه پښتو اوتــاجیکــی گړیږی .

دلغمان په غرنیو برخوکښې قومی جوړښت لاپــه ځای پاتی دی مگر په هوارو برخو کښې یې بیخی تغیر خوړلی دی

دسړکونو دجوړولو اود ترانسپورت دښه والی له کبله په دې وروستیو دیرشو کلونو کښې دمملکت داطرافو بېلوالی له منځه تللی اوټولې لرې سیمې دخپلو مرکزونو سره تــړل شوی دی .

دشینوارو قوم چه دکابل اوپېښور ترمنځه دسړك پــه غاړه پروت دی پخوایې جوپې کولې مگر اوس دلاریو اوموټرو څخه استفاده کوی، ډیر موټر یې په لاس کښې دی چــه پــه انفرادی اومشترك صورت یې اخیستی دی .

عسکری خدمت اوښوونځیو قومی او اطرافــی بېلوالی

له منځه وړی دی، دمکتب اوعسکری خدمت له برکته دمملکت ډیرې لرې اوجلا سیمې دمرکزونو سره په تماس کښې دی .

یو اروپایی د یپلومات په دې باره کښې لیکلی دی: دمختلفو سیمو اوقومونو په منځ کښې د عسکری خدمت له برکته نژدیوالی راغلی دی ځکه عسکری دنده مختلفوګړی سره نژدې کوی اویوله بله یې سره ګډوی .

مونږ پورته وویل چه د پښتنو یوه مهمه برخه کوچان اونیم کوچان دی، ددې جملې نه ځینې هغه سوداګر کوچان دی چه هرکال په منی کښې دکوزې پښتونخواجنوبی برخوته ځی اوپه پسرلی کښې بېرته افغانستان ته راځی، ددې خلکو شمېر اویا زروته رسیږی، ددې کوچانو په باره کښې معلومات ماته ډنمارکی انسان پېژندونکی فېردیناند چه داډیر کلونه کیږی دپښتنو کوچانو دژوند په کتنه بوخت دی راکړی دی، ددې کوچانو یوه برخه پرچون سامان ګلیوته وړی اوهلته یې په قرض اوپور سره خرڅوی .

دپښتنو په ځینو مهمو برخو کښې پښتنولی حاکمیت

لرى اودخلكو فيصلې اودلانجو پريکړه په همدغــه دود سره کيږى. مثلا په تيرا، اپريديو اونورو غرنيو سيمو کښېداکار عملي دى .

پښتو دغږونو اوځينى ګرامرى خواصو له مخهدختيزو اريايى ژبو په سهاکى ګروپ ورګډيږى، په دې ګروپ کښې برسېره په پښتو له مړو ژبونه سهاکــى او دژونديــو ژبــو نه شغنانى، واخانى، اشکاشمى، ايزګلامى اومنجمانى ژبېهم ورګډيږى، داژبې دافغانستان په شمال ختيز اودتاجــکستان دجمهوريت په جنوب ختيز کښې موجودې دى، په دغو ژبــو لږ خلك ګړيږى .

نووځيړنو اوپلټنو پښتو د (سهاکو ـ تخار) خلکوژبېته ورګډه کړې ده، چه دغو خلکو دميلادنــه دوه پېړى د مــخه داوسنى افغانستان شمالى برخه (باختر) او ورپسې داوسنى سيستان خاوره لاندې کــړه او وروسته له دې دغو وګــړو داوسنى افغانستان دجنوبى برخــې اودبــلوچستان لــه لارو

داباسیند لاندینی برخی‌تـه ورښـکته شول او ورپسې یـې هندوستان لاندې کـړ، ددې خلـکو ژبه د (سهاکو ـ ختن) دخلکو ژبې سره نژدې ده .

دومره خبره ده چه دپښتو لیکلی آثار کوم چه مونږ ته معلوم دی اودسهاکوژبه دیونیم زرکلنی‌دورې په حدودوکښې سره بیل شوی دی نوله دې‌کبله دشپاړسمې پېړی‌نه‌وړاندی په تاریخی پلان سره دپښتو ژبې په انکشاف درڼا اچولوپوره امکانات نشته (۱) یوازې دپښتو دگرامری جوړښت اودلغاتو داساسی پا نگو پـرتلنه د نـورو ختیځو اریایی ژبـو سره امکان لری .

باید په دې‌هم پوه شوچه له ډیروخته راهیسی پښتانه

---

(۱) دامیر کروړ داشعارو اودپټې خزانی دپیدا کـېدو له برکته دپښتو ژبې ادبی تاریخ تراتمې پېړی پوری رسیږی اونوی امکانات یې دتاریخی پلټنې دپاره پیداکړی دی .
(رشتین)

له نورو همسایه قومونو سره راشه اودرشه لری چه دې کار

بېشکه په پښتو ژبې تـاثیر اچولی دی چـه دهولونه لوړی
داتاثیر په لغاتو کښې لیدل کیږی .

ددې دپاره چه دپښتو ژبې په چلښت اوخـه رنـګوالی

وپوهیږو لوړی باید ددې ژبې په ګرامری خصوصیاتو اوغږ

پوهنې لنډ نظر واچوو اوبیا دمقصد خواته لاړ شو .

پښتو دچوپو تورو په ډیروالی سره‌دنورو ژبونه امتیاز

لری، په دې ژبه کښې دیرش چوپ توری موجود دی، دپښتو

چوپ توری په هندی ژ بـو کښې شته مګر د ایـرانی ژبـو

(فارسی او تاجیکی) نه ددې ژبې ببلوالی په (څ،ځ) اوداسې

نورو تورو سره راغلی دی .

هغه آوازونه چه دادا په وخت کښې یې دژبې سردتالو

ګومبت ته ور اوړی په لاندې ډول دی :

(ږ،ډ،ڼ،ړ،ټ، ښ) .

د(ږ) آواز په لویدیځه لهجه کښېد (ژ) غوندې دی اوپه

ختیځه کښې د(ګ) په شان دی مګر ددېتوری دپاره‌په‌غلجیی

لهجو کښې یودریم متوسط آواز شته چه دختیځی اولویدیځی لهجو ترمنځ ادا کیږی .

د پښتو ختیځی اولویدیځی لهجی د (ښ) په ادا کښې هم سره مختلفې دی، په لویدیځه لهجه کښی داتوری د (ش) غوندی ویل کیږی اوپه ختیځه کښې د (خ) په شان اداکیږی.

باید ووایو چه په لویدیځه لهجه کښې (ښ) کټ مټ دساده (ش) غوندې نه ویل‌کیږی‌بلکه فرق‌لری، دافرق تاسې په دې جوړه کلمو کښې پوره لیدلای شیء: (ښادی، شادی ـ ښی، شی) .

د (ډ) او (ټ) توری دغاښیزو تورو «د» او «ت» نه پوره فرق لری، د (ډ) او (ټ) دویون په حالت‌کښې دژبې‌سر نسبتاً شاته ورگرځی .

د (ړ) توری په پښتو کښې یوله سختو تورو څخه‌دی اومخصوص مشق غواړی، ددې توری دویون پـه وخت کښې دژبې سر دتالودگومبت سره پیوست کیږی. (ړ) بـاید د(ر) غوندې ونه ویله شی اونه باید د (ل) غوندې‌وویله شی اوکه نه دکلمې معنی تغیر کوی .

د (موړ) او (مور) کلمې نه ښايي چه يورنګ ولوستل شي ځکه دابېلې بېلې کـلمې دي اوفرق يې پـه همدې توری راغلی دی .

د (ړ) په شان د (ڼ) توری هم دسختو تورو له جملـې څخه دی، په پښتو کښې داسې کلمه نشته چه په (ڼ) شروع شوې وی ځکه (ڼ) دکلمې په سر کښې نه راځي .

په پښتو ژبه کښې د (ښ) توری ډير اوريدل کيږی لکه ښوك، ښه، ښا، اونور .

د (ف) توری چه شونډيز ، غاښيز تـوری دی يـوازې دپښتوپه هغو کلموکښې ليدل کيږی‌چه دنورو ژبونه اخستل شوی‌وی، داحرف په پښتو کښې کـله په (و) بدليږی لـکه (افغانی) چه پښتانه يی (اوغانی) وايی‌اوزيات‌په «پ»بدليږی لکه دعربی (فکر) چه پښتانه يې (پـکر) لولی، هو! يـوازې د (اف) په لفظ کښې پښتانه په خپله په (ف) خوله خوځوی.

په پښتوکښې د (و) توری معمولا غاښيز دی، په تېره بياچه دکلمې په آخرکښې راشی مـگر دشونډيز چوپ توری غوندی هم‌ويل کيږی کله چه په منځ دکلمې کښې راغلی وی.

دژبې دمخکینۍ برخې دچوپو تورو (د،ت،ن،س) ویون کټ مټ دروسی ژبې د (د،ت،ن،س) غوندې دی اوکوم فـرق نه لری .

دپښتو (ژ) او (ش) دروسی ژبـې د «ژ» او «ش» ښخه نرم دی اوپه ویون کښې پوستوالی لری .

دپښتو (ل) دروسی (ل) سره نـژدې دی، بې دهغه«ل» نه چه د (الله) په کلمه کښې راغلی دی .

(ب) او (م) دروسی «ب» او «م» غوندې دی یوازېدومره خبره ده چه (ب) دکلمې په آخرکښې امـکان لری چه په (و) بدله شی .

د (ق) حرف دپښتو په هغو کلماتو کښې لیدل کیږیچه دعربی یاترکی ژبو ښخــه اخستل شوی وی، دادپښتو خپـل توری نه دی، پښتانه داتوری په (ك) بدلوی اوکله کله‌په (خ) بدلیږی لکه (وقت ـ وخت) اوکله پــه (غ) هم بدلیږی لـکه (قران ـ غران) .

(ع) او (ح) یوازې په عربی کلمو کښې مـوندل کیږی،

(ع) یاپه (ه) بدلیږی اویاله منځه وځی مګر کله چه له منځه وځی نوضرور همسایه غږیز توری ته تغیر ورکوی .

په پښتو کښې ابتدا په ساکن راتـلای شی، حتی دوه ساکنه هم دکلمې په سر کښې ممکن دی لکه (سخوندر) .

مونږ مخکښې وویل چه پښتو دیرش چوپ توری لری، همدا راز اتـه غږیز تـوری هم لـری چه پـه دې ډول دی: (ا،ه،ۀ،ی،ې،ۍ،ی،و) .

زورکی چه یومنځنۍ حرکت دی‌دپښتو ژبی‌دخصوصیاتو نه ګڼل کیږی، ددې لاندې جوړه کلمو دپرتلنې‌نه تاسې‌زورکی معلومولای شیء : (ګډ) دمشترك په معنی، (ګډ) دپسه په‌معنی (تېره) لکه تېره چاړه، (تېرۀ) لکه تیرۀ چاکـو، «پل» دپښی اثر، (پل) دبخشش په معنی، ددې جوړه کلمو دوهمې کلمې زورکی لری .

په پښتو کښی هغه کلمې چه الف لری‌دهغو کلمونه جلا دی چه یوازې زور لری، دالاندې جوړه کلمې ولولیء : بار ــ بر، وار ــ ور، لاس ــ لس، هار ــ هر، اوداسې نور .



PROPERTY OF ACKU 1491

د (ع) او (ه) توری پښتانه پــه ځینو ځایــو نو کښې د(ې) غوندی لولی لکه (طالع) چه دوی یې طالې او «مهربانی» چه دوی یې مېربانی لولی .

په پښتو ژبه‌کښې خچ ډېر اهمیت لــری، خچ آزاد دی دکلمې په هره هجا راتلای شی مگر په لومړی هجا نسبتاًلږ راځی لکه (اسمان) دلته په دوهم‌الف خچ دی، (تالنده) په‌الف خچ دی، (ژرنده) د (ر) نه وروسته په زوربانډی دی «ملگری» د «گ» نه وروسته په زورکی باندی دی .

هغه کلمې‌چه دحروفو روڼ اوجــوړښت یې یوشان دی دخچ په ذریعه یې معنی سره بیلیږی لکه (پېښې) که خچ په لومړی (ې) راشی نوحوادث ورنه مرادیږی اوکه په دوهمی (ې) راشی نودتقلید معنی ورکوی، یالکه (جاله) که خچ‌اوفشار په الف واچول شی نومعنی یې دمرغیو آشیانه کیږی اوکــه خچ په (ه) راشی نودخیگونو دکښتۍ معنی ورکوی .

کله چه په کلمو کښې بدلون او تغیر راشی دا امــکان هم شته چه خچ دیوځای نه بل‌ځای ته نقل شی لکه (پښتون)

چه خپ په (و) باندې دی مگر په (پښتانه) کښې خپ د «ن»
نه وروسته په زورکی دی، یاداسې نور دراخلیء .

هغه غږیز توری چه خپ لری اوږده اداکیږی اوهغه چه
خپ نه لری هغه لنډوی، دعلت توری چه د خیشومی (ڼ)
ترخنگه واقع شی هغه هم دغسی صفت پیدا کوی .

برسېره په دې چه دکلمو په هجاؤ بـاندې خپ راځـی
دجملې اجزاهم خپ لری، دیوه گروپ دکلمو په منځ کښې‌چه
کومه ډیره مقصودی وی هغه مخصوص فشار اوخپ غواړی‌چه
په دې وسیله دنورو نه توپیر پیدا کوی .

دهمسایه ژبو دتاثیر له کبله دپښتو په ځینولهجوکښې
ددغې ژبې دعلت تورو څه تغیر کړی دی اوخپل اصلی‌آوازیې
بدل کړی دی مثلا دکاکـړو په لهجه کښې (توری سترگـی)
د اوږد (و) په ځای په څرگند (و) ویل کیږی .

دمختلفو لهجو دجریان په نتیجه کښې په ډیرو کلمـو
کښې حرفونه سره مخکښې او وروسته کیږی اوځای بدلوی
لکه (ورځ- روځ، مځکه - ځمکه، اوستری- وروستی،ولږه -

لوزه، ولیدل ـ لـویدل، اوریدل ـ اروبدل، همدا راز ددغـو راتلونکو کلمو په سرکښې تبدیل او تغیر ډیر لیدل کیږی : لمر ـ نمر ـ نور ـ مر، لمسی ـ نمسی ـ مسی اوداسې نور چه دې کار دلیك دود په مسایلو اودقاموسونو په ترتیبولـو کښې گرانی پیدا کړی دی . (۱)

پښتو خپل مخصوص گرامر لری چه دفارسی اوتاجیکی نه بېـل دی، پښتو صفت دخپـل موصوف سره په تـذکیر اوتانیث، افراد او جمعه کښی مطابق وی لکه تورمېږ، تـوره تخته ، تورې سترگی .

اسم ذات، اسم صفت، اسم عدد اواسم ضمیرپه پښتو کښې تصریف کیږی یعنی دوه حالته لری یویې اصلی‌اوبل‌یې فرعی، مثلا (سړی) په ملینه (ی) مـفرده صیغـه ده اواصل حالت دی اوکه عامل ورباندی‌راشی او وویل شی (دسړی‌کار

---

(۱) داگرانی اوس له منځه وتلی دی اودمعیاری لهجی دخوښونې په وجه یو یادوه شکله غوره بلل شوی دی .
(رشتین)

باید معلوم وی) په خرگنده (ی) دلته هم مفرده صیغه ده مگر په فرعی حالت کښې یعنی سړی په خرگنده (ی) هم مفرده صیغه ده اوهم دجمعی ده، په فرعی حالت کښې مفرده صیغه ده اوپه اصلی حالت کښی دجمعې صیغهده، دجمعې په صورت کښې فرعی حالت (سړیو) راځی لکه (دسړیوکار دهېواد آبادول دی) ، یالکه (پښتون) چه فرعی حالتیې (پښتانه) دی، دلته تاسې وینیء چه پښتون او پښتانه دواړه مفردې صیغې دی مگر پښتونپه اصلی حالتکښی مفرد دیاوپښتانه په فرعی حالت کښې مفرد دی اوکه پښتانه په اصلی حالت کښې واخلو نوبیاجمعه ده چه فرعی صورت یې (پښتنو)راځی یاداسې نور مثالونه درواخلیء .

د پښتو د افعالو سیستم یوه اندازه سختی لری اوخصوصاً بیا گردانونه یېپه دریو اړو زمانو کښې پوره سخت دی .

د پښتو افعال دوه حالته لری یو استمراری بل مطلق، استمراری لکه (خوړ) اومطلق لکه (وخوړ) .

باید داخبــره زده شي چــه مطلق په خــو شیونو سره راتلای شي، تومړی د (و) په زیاتوالی سره لکه (ورسید) چه استمراری صورت یې (رسید ) دی، (ونیسه) چه استمراری صورت یې (نیسه) دی او کله د (کښې) په زیاتوالی سره هم راځي لکه (کښېږده) چه استمراری صورت یې (ږده) دی.

دوهم دمعاون فعل په کــومك سره لکه (تېرشه) چــه استمرار یې (تېرېږه) دی.

دریم دخپ په بدلون سره لکه (پرېووت) که خپ‌اوفشار په (ې) راشي نومطلقه ماضي‌ده‌اوکه په (و) راشي‌نواستمراری ماضي ده .

د حال په صیغو کښې دټولو غایبو دپاره‌یوه صیغه‌راځي لکه (کوی) مثالونه یې په دې ډول دی: (دی‌کار کوی، داکار کوی، دوی کار کوی) .

دپښتو په خصوصیاتو کښې یوه داقاعده هم ده چه په متعدی ماضي کښې فعل په تذکیر اوتانیث او افراد اوجمعــه کښې دمفعول تابع وی نه دفاعل اوداهم یادساتل په‌کار دی

چه فاعل به په فرعی حالت کښی وی لکه (ماکتابواخیست)، (سړی «پهځرګنده ی» کتابواخیست)، (سړیوکتابواخیست) دلته تاسې وینیء چه په پورته دریواړو حالتونو کښی فعل (واخیست) دمفرد مذکر په صورت راغلی دی اوداځکه چه مفعول (کتاب) په دریواړو صورتونو کښې مفرد مذکر دی اوفاعل‌ته (ما، سړی، سړیو) کوم‌اعتبار نه دی ورکول شوی اوپه دې مثالونوکښې داهم وینیء چه فاعل په فرعی حالت کښی دی ځکه(ما) د(زه) فرعی‌حالت‌دی او«سړی»په ځرګنده‌ی د (سړی) په ملینه‌ی فرعی حالت دی او (سړیو) د «سړی» فرعی اودوهم حالت دی .

پښتو دېرې لهجې لری مګر په دوه لهجو کښی سره خلاصه کیږی چه یوه ختیځه او بله لویدیځه ده، لکه چه‌مونږ مخکښی ورته اشاره وکړه، ددې دوه لهجو لوی تفاوت یو په (ښ) کښی دی چه لویدیځ یې تقریباً د (ش) غوندی‌وایی اوختیځ یې د (خ) په شان وایی اوبل په (ږ) کښی دی‌چه په

لویدیځه لهجی کښی د (ژ) غونډې ویل کیږی اوپه ختیځـه کښی د (ګ) په شان ادا کیږی .

ددې دوه لهجو دغه لاندی فرقونه هم دیادونې دی :

هغه مونث اسمونه چه چه آخر کښې بې خچه (ه) لری لکه (سترګه) په ختیځه لهجه کښې دجمعی اودتغیر په حال کښې مجهوله (ې) راځی لکه: (سترګې) اوپه لویدیځه کښې په ځرګنده (ی) راځی لکه (سترګی) .

هغه مونث اسمونه چه په آخر کښی الف لری لکه(غوا) دختیځ ګروپ دیوسف زیو په لهجه کښې مفرد اوجمع یوقسم استعمالیږی لکه یوه غوا، پنځه غوا. (۱) مګر دمومندوپه لهجه کښې چه دوی هم دختیځ ګروپ له جملې نه دی دجمعی صیغه

---

(۱) دغه خبره سمه نه ده. دغوا کلـمه په ټولو لـهجو کښی قیاسی جمعه لری: غواوی، غواګانې، یوازی کله کله مفرد لفظ (غوا) دجنس په توګه دجمع په ځای کښې هم ویل کیږی.

(رشتین)

(غواوې ـ یاغواګانې) استعمالیږی، ددې لهجی فرق‌دلویدیځی لهجې سره یوازې په (ی) کښې دی چه لویدیځ یې‌په څرګنده (ی) وایی .

په لویدیځه لهجه کښې دجمعی مذکر دپاره سوفـکس (ان) راځی تردې چه په بې سا جمعــوکښی هم‌دغه سوفکس ویل کیږی لکه نوم ـ نومان .

د (دوه) عدد په ختیځه لهجه کښې دمونث شکل‌نه لری اوویل کــیږی دوه سړی، دوه ښځی مــګر په لویدیځه کښې دمونث دپاره (دوې) ویل کیږی مثلا دوه سړی، دوې ښځی.

په لویدیځه لهجه کښې دجمعی مخاطب دپاره د (است) خاتمه راځی‌لکه تاسې‌وایاست، تاسې‌تېریداست، تاسې‌یاست. مګر په ختیځه کښی بیا فعــل داخاتمــه نه لری هلته داسی ویل کیږی: تاسی وایيء، تاسې تېریدیء، تاسې یيء. ددې توپیر سره سره په لویدیځه لهجه کښې دمفرد غایب مذکــر دپاره په ماضی فعل کښې د (ی) خاتمه راځی لکه (ورسیدی) چه په ختیځه کښې (ورسېد) ویل کیږی .

په لویدیځه کښې د (پر) ادات استعمالیږی چــه همدا ادات بیا په ختیځه کښې په (په) ویل کیږی .

په ختیځه لهجه کښې د (نــه) لاحقــه راځی چه بیا پــه لویدیځه کښی (ځخه) استعمالیږی .

(په ښار کښې) دا عبارت پــه ختیځــه اصطلاح کښې (ښار کښې) ویل کیږی، مثلا ښار کښې وم .

دغه ډېر ویل کېدونکی مصدر (شول) په لویدیځه‌کښې اکثر په (سول) سره ویل کیږی .

سره ددې‌چه په لهجــو کښې تــوپیر شته ، دخــتیځو اولویدیځو لهجوخلك په ښه شان‌سره کولای شی چه‌یوتربله سره ترډیر وخته وګړیږی اوپه مطلب سره وپوهیږی .

پښتو مختلفې اوډېرې لهجې لری‌چه تراوسه پورې‌ټولې په پوره اندازه سره نه دی څېړل شوی .

د (ګریر سون) په کتاب کښې دپښتو لهجو دیوې‌برخی مختصر خواص بیان شوی دی اودهغو نمونې ورکښې راغلی دی مګر پوره معلومات اوکافی مواد ددغو لهجو په باره کښې

دناویژی (مارگینستیرنې) په‌کارونو کښې ځـای شوی دی اوهلته پوره مطالعه کیدای شی .

تراوسه پورې په دې باره کښې کار نه دی شوی چـه ادبی ژبه څومره تاثیر په لهجو اچوی، دملی ژبې دپراختیـا په وخت کښې دغه تاثیر په ښوونځی، اردو اوپه دایروکښې ډیر قوی دی .

دپښتو هغه قاموس چه دپښتو ټولنې له خوا چاپ شوی دی ددې خبرې ښه مثال دی چـه پښتو مختلفې لهجې لـری اودنورو ژبو لغات هم ورکښې ننوتی دی .

سره ددې چه گرامری جوړښت مختلف اودلغاتو پانگی یورازنه دی بیاهم دپښتو لهجو نه یوه متحده ژبه جوړه ده، دمختلفو لهجو خلك کولای شی چه یوتربله سره خبری اتری وکړی اویوبل‌ته خپل مطلب ښکاره کړی، مثلا وردگی کولای شی‌چه دوزیرستانی سره خبری وکړی، وزیری کولای شی‌چه دمومند سره وگړیږی، مومند کولای شی چه دمنگل سره‌مرکه وکړی، منگل کولای شی چه قطغنی سره خبرې اتری وکړی،

قطعني کولای شي چه دشنواری سره مفاهمه وکړیاوشنواری کولای شي چه دهراتي پښتانه سره آزادې خبری وکړی ۰

د خليل مومندو یا پېښوری لهجــه ختیځې لهجی تــه منسوبه ده، ددې لهجی له خواصونه یودادی چه (ژ) پکښې په (ج) بدلیږی، لکه (ژوند) چه دوی «جوند» وایی، په ماضی کښې دمفرد غایب دپاره مثلا د (راغی) په ځای (راغلو) وایی، د (ورسید) په ځای (ورسیدو) ویل کیږی ۰

دربط ادات (دی) په دې لهجه کــښې د (دې) غــوندی ویل کیږی، پېښوری لهجه دختیځی ادبی ژبې دپاره اساس گرځېدلی دی ۰

غلجی لهجه په ختیځ گروپ کښې دویونکو له حیثــه ترټولو زیاته ده، د (ږ) او (ښ) پــه آوازونــو کښې دالهجه ځانله خپل خصوصیت لری، دضمیرونو په ویون کښی دنورو لهجونه بیلوالی لری، مثلا د (زما) په ځای دوی (دما) وایی، دستا په ځای (دتا) وایی، دتلــل دمصدرنه په مطلقه مــاضی کښې دنورو ختیځو لهجو غوندې (لاړ) وایی چه داصورت بیا په لویدیځه لهجه کښی (ولاړ) ویل کیږی ۰

باید ووایو چه ډېر لویدیز غلجیان‌کندهاری پښتووایی.

یوسف زایی لهجه دنورو لهجونه په دې کښې امتیاز لري‌چه دوی (ږ) کټ مټ د (ګ) غوندی وایی او «ښ» عیناً دساده (خ) په شان تلفظ کوی، د (څ) توری د «س» غوندې وایی لکه (څوك) چه دوی یې (سوك) وایی. همدا راز «ځ» په ساده (ز) بدلوی او (ژ) په «ج» بدلوی لکه «ژرنده» چه په دې لهجه کښې جرنده ویل کیږی .

د (ته) لاحقه د (له) غوندی وایی، مثلا د «ماته»په ځای (ماله) وایی، د (په) ادات په دې لهجــه کښې د «پا» غوندی ویل کیږی او د (به) مشهوره علامه د (با) غوندې وایی لکه (خپل پلارته با «به» ورشم) (۱) .

په دې لهجه کښې ډېر آثار لیکل شوی‌دی اوډېرادبیات

---

(۱) دلهجو ددغه اختلاف سره سره بیاهم په لیك دود کښې مهم فرق نشته او (په) او (به) په همدغه متحد معیاری شکل لیکل کیږی .

لري. داپريديو لهجه يوه له هغو لهجو نه ده چه دختيځو لهجو په منځ کښي پوره بيلوالي لري، د (پلار)په ځاى (پلور) وايي، د (ګار) په ځاى (ګور) استعمالوى، د «لاس» په ځاى «لوس» وايي، د «درته» او (ورته) ضميرونه دوى (دېرته) او (ويرته) وايي، دظرف کلمه (دلته) د «دېلته» غوندې تلفظ کوى اوخصوصاً ډېر ښکاره توپېر په دغو راتلونکو ضميرونو کښې ليدل کيږى: د (زما) په ځاى ددوى په لهجه کښې (اېما) ويل کيږى، د (ستا) په ځاى (اېتو) ويل کيږى، «دهغه» په ځاى پکښې (ايغه) وايي اود (دهغوى) په ځاى اېغو ويل کيږى.

دبنګښ لهجه دپښتونستان په لويديز کښې ويل کيږى، ددې لهجې دخصوصياتو نه د(خليل مومندو غوندې) دماضى فعل دغايب په صيغه کښې د «و» دتورى زياتوالي دى مګر دخليلو په لهجه کښې د «و» تورى ضرور زياتيږى اوپه دې لهجه کښې ضرورى امر نه دى کله پکښې خفى «ه» هم د «و» په ځاى راځي لکه د(ورسيد) په ځاى دوى ورسيدو ياورسيده وايي، په دې لهجه کښى «ښ» د (س) غوندى ويل کيږىاو(ځ)

ورکښې د «ږ» غوندې ده، داهم باید وویل شي چه دفعل‌حال دغایب صیغه یعنی (کوی) په دې لهجه کښې (کـی) غوندې ویل ګیږی، داهم امکان لری چه دالهجه دخلیل مومندودلهجی یوجز وګڼل شی ۰

په لویدیز کښې ترټولو زیاته خپره لهجه دورانی‌لهجه ده، ددې لهجی ستر خصوصیت په افعالو پـورې د (است) لاحقه ده ـ (تاسی‌ولاړ است، تاسی‌وایاست)، په ماضی فعل کښې داسی ویل کیږی:

(ورسیدی، څواب یې ورکی.)

د (پر) ادات دلویدیزی لهجی له خصوصیاتو نه دی ، وګوریء چه ګـل پاچا الفت د (پـر) دادات په بـاره کښې څه لیکی :

(که څه هم (پر) او «په» غیر مهمې کلمی ښکاری مګـر دادبی شکل په ښیلوالی کښې ددوی اهمیت ډېر لوی دی.)

په دورانی لهجه کښې د (کړل) دمصدر نـه لنډ شکل ډېر استعمالیږی مثلا (راکه!) بې (ړ) ویل کیږی، د «شول»

مصدر د «سول» غوندی ویل کیږی (راسه! ) وایی .

ددې لهجې دمتنونو نمونې محمدګل نوری په دوه ټوکه (ملی هنداره) کښې راوړی دی چه په کابل کښې دپښتوټولنی له خوا چاپ شوې ده، ددې دوه ټوکـو ټـول مطالـب قصی اوافسانې دی مګرله بده مرغه‌چه عربی‌توری دلهجوخصوصیت نه شی څرګندولی .

دختکو لهجه یوه مهمه لهجه ده ځکـه دخوشحال خـان نه نیولی ترزمونږ دزمانې پورې دغه قوم ډیر اوښه لیکـوال لری، د (ورته) ضمیر په دغه لهجه کښی د (ویرته) غوندې ادا کیږی، په دې لهجه کښی‌هم «ښ» په «س» او «ځ»په ساده (ز) بدلیږی مګر نه دټل دپاره، شخصی ضمیر (زه) د «زې» غوندی او «ته» د «تې» غوندې ویل کیږی، دختکو لهجی‌سره بنوڅی لهجه ملګرې کیږی .

دکاکړو لهجه له بده مرغه تراوسه پوری نه ده څیړل شوې، ددې لهجی دخصوصیاتو نه یوه‌دادی چـه مجهول (و) په معروف (و) سره بدلوی لکه (تورې سترګې) چه دوی یې په معروف «و» سره وایی .

دمروتو لهجه هم پوره نه ده ـ مطالعه شوې .

وزیرستانی لهجه دښنو له کبله یوه مهمه لهـجه ده، دالهجه په ختیز گروپ کښی داپریدیودلهجی سره سرخوری، په دې لهجه کښې معروف (و) په معروفه (ی) بدلیږی لـکه (مسود) چه دوی یې (مسید) وایی اومجهول «و» ورکښی په مجهوله «ې» اوړی لکه «مور» چه دوی یی «مېر» وایی یاخلور چه دوی یې خلوېر وایی، د (کښې) لا حقه د (کشی) غوندی وایی چه دالاحقه په ختیزې لهجی کښې د (کې) غوندی اوپه لویدیزی کښې د . کی په معروفه «ی» ویل کیږی .

دوزیرو سره دنـورو پښتنو راشه درشه خـه گرانـه غوندې ده لکه چه دې کارته (لوریمر) چه خپل منوگراف یې دوزیری لهجی په باره کښې لیکلی دی اشاره کړې ده. (۱)

---

(۱) خه رنگه چه دنورو پښتنو راشه درشه وزیرو سره لږه ده نوددوی لهجه نگه پاتی شوې ده اونورو لهجوورباندی تاثیر نه دی کړی اوهمدا وجه ده چه وزیـری لهجه دنـورو پښتنو دپاره خه ناآشنا غوندې ده .    «مترجم» .

نوموړی لیکی: (تقریباً دهر کلی لهجه د بل کلی د لهجی نــه بېله ده، ترڅو چه دالهجه دومره ګڼه وړه ده چه کله کله یوه کلمه هماغه یوسړی په بېل بېل ډول وایــی مــګر سره ددې توپیره بیاهم دوه وزیریان یوتربله سره په آزاد ډول خبری اومفاهمه کولی شی ... وزیری لهجه په صرف، په لغاتــو اوحتیپه اصطلاح ګانو او عباراتو کښې په پوره اندازه سره دهغی لهجی ... چه دکوهــاټ اوپېښور پــه سرحدونو کښې ویل کیږی توپیر اوبېلتون لری. ... چیری دشمالی ځایونــو سړی دوزیری سره چه دواړه ګرځنده خلك نه وی دلومړی ځل دپاره یوځای شی نوپه تکلیف سره به یودبل په خبــرو پــوه شی اودا امــکا ن هــم شته چه په ځینو شیانــو سره ونه پوهیږی مګر دومره خبره شته چه دا دواړه ډیر ژریودبل ژبه زده کولی شی خومانه دامعلومــات نشته چه ګــوندی دبلی سیمی کوم پښتون به وزیری لهجه زده کړی وی اوپه هغی به ګړیږی) .

تراوسه پورې تقریباً د ځاځیو، ځدراڼو اومنګلوپه‌لهجه

کښې کوم معلومات نه ؤو مگر په ۱۹٦۱ کال کښې د کابل مجلې په (۵۰۱) گڼې کښې دلوړې ځل دپاره یوه اوږده مقاله دمحمدصدیق روهي په قلم (دخوست محلي لهجې) چاپ شوه، ددې مقالې نه معلومیږی چه دا لهجه په (واویز) گروپ ورگډیږی یعنی الف پکښې په (و) بدلیږی لکه (کتاب) چه دوی یې (کتوب) وایی او (لاړ) په لوړ تلفظ کوی. برسېره په دې ددې لهجې خلك مجهول (و) په مجهوله (ې) بدلوی لکه «گوره» چه دوی یې (گېره) وایی اومعروف (و) په معروفه «ی» بدلوی لکه (درومی) چه دوی یې (دریمی) اداکوی یالکه «نوم» چه دوی یې «نیم» وایی (۱) .

---

(۱) دښاغلی اسلانوف دغه مقاله یوه درنه علمی مقاله ده اوپه لهجو کښې یې زیات لټون کړی دی.که څه هم په ځینو مثالونو کښې ورسره موږ اختلاف لرو مثلا دخوست په لهجه کښې په (و) باندی دالف او په (ی) باندی د «و» بدلونه دوزیرستان او اپریدو دلهجو مهم امتیاز دی چه دخوست لهجه هم دهغو تابع ده اوکوم ځانله اختصاص نه لری .
(رشتین)

دټــولو پښتنو دلهجو نه وانيځی لــهجه زيات بېلتون لری تر دې چه مار گنستېرن ليکی چــه دالهجه امــکان لر ی چه يوه بله مخصوصه ژبه وی .

په ۱۷٤۷، ع کال کښې چه د کــندهار ښار دافغانستان پايتخت شو له هماغه وخت نه داتلسمی پیړی ترآخره پوری دټولو جنوب لويديزو پښتنو دپاره کلتوری او اقتصادی مرکز وگرځيد ، دورانی لهجه په دغه وخت کښی قدم په قدم وسيعه اوپراخه شوه؛ دقومی لهجی نه يــې دټول کــندهار د خاورې لهجی ته يې ارتقا وکړه .

احمدشاه بابا دکندهار په ښارکښی قومونوته په بيلوبيلو کنديو کښی ځايونه ورکړل (مثلا ترنن ورځی پوری دانــوم شته دبامېزو کوخه ) .

دټول ښار لهجه دورانی لهجه شوه په کومه چه په خپله احمدشاه بابا گړيد، دېرو لويديزو غلجيانو کندهاری لهجه ومنله ، مثلا هغه لومړی پښتو درسی کــتابونه چه مــولوی صالح‌محمدخان‌چه‌په‌خپله غلجی‌دی ليکلی‌دی هغه‌په‌کند هاری

(دورانی) لهجه دی لکه چه دا مطلب په خپله مولف دلوموړی کتاب په سریزه کښې څرګند کړی دی مګر اوس په افغانستان کښې په زیاته اندازه غلجیی لهجې هم پرمختګ کړی دی اواستعمال یې ډېردی، ددی خبرې دلیل دانه دی چه ګوندې ډېر لیکوال او ژورنالیستان غلجی لهجه لیکی اوددې لهجې ښښتنان دی بلکه دلیل یې دادی چه پایتخت (کابل) په داسې سیمه کښې پروت دی چه شاوخوا ورنه زیات غلجی قومونه پراته دی اوپه خپله په ښار کښې هم ډېر اوسیږی .

د یوه ادبی فورم په جوړیدنه کښې د دواړو لهجو دخصوصیاتو یوځای کېدل یوضروری امر دی اودادی مونږ وینوچه ختیز پښتانه د (یی ٤) په ځای (یاست) او د «په» ادات په ځای «پر» وایی او همداسې نور . دلویدیزی پښتو خصوصیات اوس په ختیزی کښې رواج لری اوله بلی خوا لویدیز پښتانه هم دختیزی لهجی دخصوصیاتو نه استفاده کوی مثلا د (ښخه) په ځای د (نه) لاحقه استعمالوی .

باید وویل شی چه دلویدیزی ادبی پښتو اساس دوراني لهجه ده لکه چه دختیزی ادبی پښتو اساس پېښوری لهجه ده .

د صالح محمد خان درسی کتابونه، دپنزل گرامر اودشوروی افغان پیژندونکی لیبېدېف گرامر لویدیزه لهجه معرفی کوی اودبدیعی نثر نمونی یې دبېنوا، زمریالی اونورو په آثارو کښې دی او دقاضی رحیم الله خان دوه کتابونه دختیزی پښتو دپاره خدمت کوی اود بدیعی نثر نمونی یې دمنشی احمدجان اونورو په آثارو کښی لیدل کیږی .

افغان ملت دخپلو خاصو تاریخی شرطونو له مخه جوړ شوی دی، مونږ په څرگند ډول نه شوویلای چه د (پښتون اوپښتو) نومونه کله پیدا شوی دی خو هغه یادداشتونه چه دلومړی ځل دپاره زمونږ گوتوته راغلی دی اوددې قوم یادونی پکښې شوی دی هغه د شپږمې عیسوی پیړ ی سرحدته رسیږی .

دشپاړسمی پیړی په کتابونو اوآثاروکښې د(پښتونخوا)

ذکر دېر راغلی دی، پښتونخوا دپښتنو سیمې یا هیواد تـه وایی، نورو ملتونو ټولو پښتنوته (افغان) وایه او اوس هـم افغان ورته وایی .

دپښتنو تاریخ اودژوند کارنامې یې په لومړیو اومنځنیو پېړیو کښې په کافی اندازه سره نه دی څېړل‌شوی، شوروی پوهانو په دې نژدی وختونو کښې دپښتون ملت دجـوړېدو مسایل ترکتنې لاندې نیولی دی اوددوی دتـاریخی اړخونـو په څېړنه مشغول دی .

د دوه (انګلو ـ افغان) جـګړو په نتیجه کښې پښتون ملت ۱۹ پېړی په آخر کښې ټوټې اوپه دوه برخوووېشل‌شو، برسېره په دې له دېری مودې څخه قبایـلی فـرق‌اوبیلوالی منځ‌ته راغی چه بیا په تدریج سره دوی په عمومی اقتصادی پرمختګ کښی ورګډ شول مګر دغه پرمختګ داستعمارچیانو دېرله پسی حملو په اثر وځنډېد، د دریاب د تجارتـی لاری بندیز دپښتنو په اقتصادی انکشاف ناوړه اثـر وکـړ اوهم دپښتنو په‌خاوره انګلیسی سیـا سـت دغـه نـو مـو ړ ی پرمختګ ته لوی تاوان ورساوه .

دغو پورتنیو علتونو لکه چه دپښتنو اقتصادي پرمختګ اوقومی جوړښت خراب کړ دغه شان یې ددوی دملی ژبې جوړیدنه هم ویجاړه کړه .

دېرې پېړۍ د پښتنو دسیمې دولتی ژبه فارسی وه، ددې ژبې رول هغه وخت ډېر زیات شو چه د۱۸ پېړۍ په آخر کښې دافغانستان پایتخت دکندهار نه کابل ته رانقل شو مګر دومره خبره ده چه لاپه هماغه وخت کښې داسې سببونه موجود ووچه دملي ژبې (پښتو) دجوړښت سره یې کومک کاوه .

په دولسمې پېړۍ کښې پښتو زیات ادبیات لرل چه توری او حروف یې د عربی او د خوارزم د مړې ژبې نه مخالف وو .

دپښتنو دفولکلور ډېرښت اودعشقی شعرونو زیاتوالی لا اویا کاله وړاندې ډارمستېټر یاد کړی اوستایلی دی .

داوه لسمې پېړۍ دپښتو دادب تاریخ مونږ ته داسې نومیالی اووتلی شخصیت را په ګوته کوی لکه خوشحال خان

ختهك، دی یوازې شاعر نهٔ بلکه جګړن هم ؤ، دی دپښتنو دیووالی اواتحاد سخت طرفدارؤ، دده آرزو یوقرن وروسته احمدشاه بابا پوره کړه، احمدشاه بابا پښتانه قبایل سره یوکړل اوپه ۱۷٤۷ کال کښې یې د پښتنو دولت منځ ته راوویست او قبایلی تفرقوته یې خاتمه ورکړه، احمدشاه دشعر په نړۍ کښې دخوشحال خان تابع اوپیرو دی .

پښتو ادب په شپاړسم او اوه لسم قرن کښې په مخصوص ډول سره وده اوپرمختګ وکړ ، ددې انکشاف یوه برخه دروښانیانو په نهضت اوحرکت پوری اړه لری، ورپسی داسی شاعران لکه خوشحال خان اورحمان منځته راغلل چه ددوی د آثارو مننه ترنن ورځی پوری په پرله پسی ډول سره دشاعرانو له خوا کیږی .

دشپاړسمی نه تراتلسمی پېړۍ پورې دپښتو ادبی ژبه باید چه غور سره وپلټل شی اودمختلفو اړخونو څېړنه یې ضروری ده. اوهم یې متنونه چه په عربی خط لیکل شوی دی اوربدلوته اړدی، خصوصاً بیا د (خیرالبیان) هغه خطی کتاب

چه دوهم ځـل مونـدل شوی دی او دهغـه وخت مخصوص دایرةالمعارف دخوشحال خان (دستار نامه) بیا پوره کـتنه غواړی که څه هم دستار نامه نسبتاً په ساده او آسانه ژبـه لیکل شوی ده .

دهغه وخت ادب داسی شاهدی ورکوی: لـومړی داچه دهغه‌وخت‌دلهجوتوپیرلږ،څرگند شـوی دی او دوهـم دا چـه دغه توپیر دقومونـو په مـنځ کښې د کـلتوری مبادلی مخه نه ده نیولې .

دشپاړسـم او اتلسم قـرن دادبی پښتـو ( تحـر یـری) څېړنه اوپلټنه باید دیوې ډلې پښتنو پوهانو له خواپه تدریج سره عملی شی، دهرپخوانی لیکوال دکلام لغوی اوگـرامری خصوصیات په مفصل ډول سره تجزیه اوڅیړل شی، داکار شروع شوی دی لکه دخوشحال خان ختک دکلام دگـرامری خصوصیاتو په باره کښې دلومړی ځل دپاره یوه مقاله په‌کابل مجله کښې نشر شوه. بنایی چه دغه قیمتی کـار ژر تر ژره سرته ورسیږی .

داوه لسمی پېړۍ نه راپه دې خوا د ختیزو پښتنو
تجارتی او کلتوری مرکز پېښور په خپل انکشاف شروع وکړه
اودلویدیزو پښتنو اقتصادی، سیاسی اوکلتوری مرکزکندهار
له اتلسمی پیړۍ څخه په خپل پر مختګ پیل وکړ، دکندهار
دښار اوسیدونکی اساسا دورانی دی‌اوپه پښتو ګړیږی،دنورو
قومونو نمایندګان‌چه دوی سره راشه اودرشه لری هغوی‌هم
ددورانی لهجی خصوصیات استعمالوی .
باید وویل شی چه لویدیز غلجیان‌مثلاخټک‌هم کندهاری
پښتو وایی لکه چه ځینی پوونده غلجیان دالهجه وایی .
په اتلسم قرن کښې په دورانی حکو مت کښې پښتو
په اردو اوعسکری مرکزونو کښې حکمرانی لرله، څه موده
پخوا چه په پېښور کښې داحمدشاه دقضایی چارو دلاسی‌خط
کتاب وموندل شو هغه په پښتو اوپه کندهاری لهجه ؤ (۱).
تقریباً دیوې پیړۍ په موده کښې (داتلسمی آخر اود

---

(۱) بنایی چه دده مطلب احمدشاهی فتاوای وی .

نونسمی سر) دپښتو ادبی آثارو ماتی وکړه مگـر فولـکلور اوعشقی اشعارويې ادامه درلوده .

دنو نسمی پیړ ی په دوهمی نیمایـی پـه پیښـو ر کښې پښتو ادبیات بېرته راژوندی شول، ددې ادبیاتو دانـکشاف سره په هند کښې دلیتوگرافۍ ددستـگاه پیدا کیدلو زیات کومك وکړ .

دشلم قرن په اوایلو کښې په افغانستان کښې دمورنۍ ژبی پښتو سره علاقه قوی شوه، داعلاقه دپښتنو دملیویښتیا اوبیدارۍ سره مستقیمه رابطه لری. دپښتنو ددېملی ویښتیا اوحرکت یوشاهد دادی چه دوی هغه تللی خپلواکـی بېرته لاس ته راوسته اودننه پـه هېـواد کښې يې يولړ اصلاحات وکـړل .

په ۱۹۰۳ ع کـال په کـابل کښې دلـومړی ځل دپاره یومنځنی مکتب تاسیس شو چه دملی منورینو په راپیداکولو کښې يې کومك وکړ .

په سراج الاخبار کښې چـه دیومشهور پوهاند افغان

محمود طرزی ترکتنی لاندې نشرېده دپښتو ډېر مواد پکښې

نشریدل .

په ۱۹۱٦ کال په کابل کښې دپښتو لومړی درسی کتاب

په لویدیزه لهجه دمولوی صالح محمد خان له خوا نه چاپ

شو .

په ۱۹۱۹ کال کښې چه پښتنو خپلواکی لاس ته راوسته

نودې کار دمملکت دانکشاف دپاره عموماً اودکلتوری چارو

دپرمختګ دپاره خصوصاً ښه مناسب شرطونه برابر کړل

اوهم یې دملی ژبی پښتو سره علاقه قوی کړه .

له دغه وخت نه راپه دې پلو دمکتبونوشمېر مخ پرزیاتیدو

دی، درسمی معلوماتو له مخی په افغانستان کښې په ۱۹٤۱-

۱۹٤۲ کلونو کښې ۳۳۱ ابتدایی اومنځنی مکتبونه موجودؤو

چه په هغوکښې څلور شپیتو زرو شاګردانو تحصیل کاوه

اوپه ۱۹٦۰ - ۱۹٦۱ کلونو کښې ۱۰۵۵ مکتبونه جوړ شول

چه دشاګردانو شمیریی ۱٦٥٥٦۹ ته رسید .

په ۱۹۳۱ کال په افغانستان کښې (دکابل پوهنتون)

جوړ شو ، په مملکت کښې دا لومړی عا لی پوهنتون
ګڼل کیږی .
دخپلواکۍ دګټلو څخه وروسته په پښتو ژبه یولړ
اخبارونه اومجلی راووتلی .
په کابل، کندهاراوجلال آبادکښې دپښتو درسی کتابونه
چاپېدل، دخپلواکۍ دجنګ په وخت کښې په ۱۹۱۹کال کښې
ډېرو پښتنو په اخبارونو کښې پښتو اشعار چاپول اویوچټک
حرکت روانؤ. د (اعلیحضرت) محمد نادرشاه دپادشاهۍ
په وخت کښې دپښتو ژبې تعمیم اوانکشاف د پاره ځینی
موسسې جوړې شوې اودا اقدام څکه وشو چه پښتو ددولتی
ژبی په حیث پیژندل کیده. ددغی ژبی د انکشاف ضرورت
اوحتمی پرمختګ داعلیحضرت محمدظاهرشاه ددورې په دولتی
پرګرام کښې په ۱۹٤۳ کال کښې شامل شو، په دغه کال
په کندهار کښې (پښتو انجمن) جوړ شو ددغه انجمن له خوا
پښتو مجله خپریدله اوهم یې دوه ټوکه پښتو خود آموزه
دفارسی ژبو دپاره چاپ کړل .

په ۱۹۳۶ کال کښې پښتو ددولتی اورسمی ژبی‌په‌حیث اعلان شوه، دپادشاه په فرمان کښې ټول حکومتی‌کسان‌دپښتو په زده کړه مکلف شول اودپښتو رواجېدل په دولتی دایـرو کښې دفـارسی سره یو ځـای ضروری وښودل شو. پښتو قدم په قدم سره دلیکنې په کارونو او رسمی ځایو نـو کښې عاموالی پیدا کړ، په ټولو مکتبونو کښې دپښتو ژبې تدریس جاری شو اوپه ټولو وزارتونو اوموسساتوکښې دپښتورسمی کورسونه جوړ شول چه وظیفه یې ددغې ژبې پراختیااودرسی ښودنه ده .

په ۱۹۳۷ کال کښې دکندهـار اود کـابل پښتو ادبی انجمنونه سره یوځای شول اوپښتو ټولنه ورڅخه جوړه‌شوه، دپښتو ټولنې وظیفه اوهدف خلکوته پښتو ورزده کول،پښتو عامول اوپښتو ادبیاتوته انکشاف ورکول دی .

له ۱۹۳۶ کال څخه راهیسی یولړ اخبارونه یوازې پـه پښتو ژبه چاپیږی اوهغه خپرونې چه په فارسی ژبه دی هلته هم دپښتو یوه برخه شته .

له ۱۹٤۰ کال څخه راهیسی ادبی‌اوبدیعی (کابل مجله) په پښتو نشریږی دامجله دپښتو اکاډیمی ارګان دی، دېمجلی دپښتو لیکوالو اوددوی دګارونو په یووالی اورا ټولولو کښې ډیر مهم رول لوبولی دی او لوبوی یې.

له ۱۹٤۳ کال‌څخه راهیسی دکابل راډیوپه خپل‌فعالیت شروع کړی ده چه پـه پښتو اوفـارسی نشریات کـوی.

په ۱۹٤٤ کال کښې دکابل په پوهنتون‌کښې دادبیاتوفاکولته پرانستل شوه، دغې فاکولتی ډیر ادیبان اوپـوهان منځ تـه راوویستل .

له ۱۹٤۹ کال نه راهیسی په پښتو اوفارسی په ډیـرو ټوکونو کښې افغان دایرةالمعارف (آریانا) چاپیږی.

دمطبعی دګارونو انکشاف او پرمختګ ته ډیره تـوجه شوی ده، په مرکزی برخو کښې په تدریج سره لیتوګرافـی چاری په تیپو ګرافی بدلې شوې چه‌په مطبوعاتی‌کارونو کښې تیزی پیداشی اودکتابونو اونورو نشریاتو اندازه زیاته شی.

په عمومی ډول‌سره دمملکت دتیزاقتصادی اوکلتوری‌پرمختګ

له کبله په دې شلو کلونو کښې‌یوه معلومه نتیجه دافغان‌ملت لاس ته ورغلې ده .

له ۱۹۳۷ کال څخه راپه دې خوا پښتو ادب یوښکاره اومحسوس موفقیت اوکامیابی ته رسیدلی دی، د اشعارو دانکشاف سره دنثری نوعی انکشاف اوپرمختگ هم روان‌دی، قصې په‌کښې پیداشوې، نکلونه اوافسانی په‌کښې‌لیکل‌کیږی اوپه دې وروستیو کلونو کښې دلوموړی ځل دپاره دپښتنو لیکوالو رمانونه دنړی مخ‌ته راووتل ډرامه نویسی په کښې منځ ته راغله او په پوره اندازه سره پښتانه لیکوال پیدا شول .

دښوونځیو انکشاف، دراډیو نشریاتو اودډرامو لیکلو دادبی ژبې او داولسی لهجو ترمنځ تناسب ټینګ‌کړی دی .

افغانی لیکوالو اوعالمانو ځوځلی دادبی ژبی اودپښتو دلهجو دتناسب په باره‌کښې غونډې سره‌کړی اودامسایل‌یې منځ‌ته رااچولی دی، په دې موضوع کښې نوی‌کار په ۱۹۶۱ کال کښې دکابل مجلی په ۴۹۲ گڼې کښې د (معیاری‌پښتو)

ترعنوان لاندی مقالــه ده، په دې مقالــه کښې ویل شوی دی «چه دټولو نه لومړی باید دادبیاتو اصل منبع وپلټواوزده‌يې کړوچه هغه دملت ژبه ده، باید په پــوره معنی سره دپښتو لهجې زده کړو اوله هغو څخه يوه معیاری لهجه‌غوره‌کړو».

دغږرو ښوونځیودجوړېدو،دراډیو دنشریاتو اوپه‌عمومی ډول سره دخلکو دراشه او درشه له برکته دادبی ژبې اولهجو په منځ کښې اشتراك سره قوی شوی دی مګر دلته داهم باید ووایو اوپوه شوچه کــومه محاوره چه پــه وړو کتوب کښې زده‌شوی ده هغه په ټولــه معنی سره ساتلــی پاته شوی ده اوعادات نه ځی دمثال په ډول داسی لیکوال او دپــښتو ژبــی ادیب لګه ګل پاچا الفت په محاوره کښې «کیی» وا يې او پــه لیك کښې بیا ددې کلمی ادبی شکل «کوی» لیکی :

په ۱۹٤۲ په کابل کښې دپښتنو لیکوالو اوپوهانو يوه جرګه جوړه شوه دوی تصمیم نیولی ؤ چه يو معلوم معیارمنځ ته راولی‌او دلیك دودقواعد آسان‌او ښه کړی.دوی‌کوښښ‌وکړ اودمفرد مذکر ـ غایب د پاره يې چه مختلف شکلــونه لــری

يوشكل انتخاب كړ اونوريي پرېښودل مثلا د (ليدل) دمصدر نه (وليد) شكل انتخاب شو او دخليل موندو لهجه (و ليدو اودكندهار لهجه (وليدى) په ځاى پاتى شوې، مـگر دجمعى مخاطبى خاتمى (است) او (يىء) مساوى انتخاب شوى او په ليكلو كښې دواړه صورته روا دى لكه (پښتو واياست، پښتو وايىء). د ۱۹٤۸ كال په اگست كښې همدا راز يوه بلهجرگه جوړه شوه، داخل پهكښې پښورى ليكوال هم شامل وو،ددې جرگى غـرض اوهدف داؤچـه د دواړو لهجو نژديوالى سره راولـى .

دريمه جرگـه د ۱۹٥۸ كال داگست پـه مياشت كښې په كابل كښې وشوه، داخلدجرگى موضوع ليكدوداوگرامرى مسايل وو، داپيره په دې جرگىكښې په خپله دپېښور دپښتو اكاډيمى مشرهم گډون كړىؤ، دجرگـى دتصميم په اساس په يولړ ځايونو كښې دختيزى پښتو شكل ته ترجيح وركړ شوې ده، شك نشته چه افغانى ليكوال اوپوهان په دې باره كښې د مشكلاتو سره مخامخ دى، يوه كلمـه چه دوه يادرى

شکله ولری خنګه بــه مشکل نــه وی مثلا (ورځ) او (روځ) (لمر) او (نور) اوداسی نور مثالونه دررواخلــه، مـګر په دې کښې هم باید شك ونه شی چه افغانی لیکوال دې موضوع‌ته متوجه‌دی اوقدم په قدم به دامشکلات لری کړی اویوه متحده ادبی ژبه اومعیاری پښتو به منځ ته راشی .

په ۱۹۵۲ ـ ۱۹۵٤ کــلونــو کښې پښتو ا کاډ یمــی (پښتو ټولنی) یو ستر قاموس پــه دوه جلــده کښې پښتو په فارسی چاپ کړ، په دې قاموس کښې دلــویدیــز اوختیز دواړه لهجی راوړل شوی دی اود دواړو لهجــو خصوصیات ور کښې قید شوی دی اوبیا په ۱۹۵٦ــ۱۹۵۸ کــلونو کښې بل ستر قاموس فارسی په پښتو دنوموړی اکــاډیمی له خوا نه چاپ شوچه دلهجو خصوصیات پکښی ځای شوی دی .

په اوسنی وخت کښې دکابل ښار دافغانــی ملی ژبــی په جوړېدو کښی مهم رول لوبــوی ځــکه په دې ښار کښی دپښتنو دمختلفو قبایلو خلك اوسیږی .

ډیر لوی کار د هغه ګــروپ په غــاړه دی چه نومونــه

اواصطلاحات وضع کوی. ددوی وظیفه داده چه دولتی، علمی اوتخنیکی اصطلاحات ږدی، دخارجی اواقتباسی کلماتوپه‌ځای پښتو اصطلاحات انتخابوی .

په دې شلو وروستیوکلونوکښې‌دوه ځلی دپردیولغاتونه دپښتو دسوچه والی دپاره کوښښ وشو،لومړی ځل‌داکوښښ ددوهم لوی جنګ په وخت کښېؤ اودوهم‌ځل تقریباً لس‌کاله وړاندی ؤ .

دژبې سوچه والی دپردیو هغو لغاتو نه چه معنی یې دعامو خلکو دپاره ښکاره نه وی یوطبیعی کار دی مګرکله‌کله داسی پیښیږی چه مثلا دعربی کلمی په ځـای دپښتو کلمی پیدا کېـدل سخت او مشکل شی . پـه دې مـوضوع کښې ګل پاچا الفت اصل حقیقت ته رسیدلی دی او داموضوع یې حل کړې ده، دی لیکی :

(ځینی وایی پښتو بـاید سوچه کـړو . پـردی لغات ترې نـه وبـاسو او یوټـکی فارسی یاعربی په کښې پـری نـږ د و .

دانظریه په ډېر افراط بناده اوداکار کیدونکی نه دی، په

دنیاکښې داسې ژبه نشته چه پردی لغات په کښې نـه وی اونیلی اوریښې یې له نورو ژبو سره تـړلی نـه وی، جهان اوس دیو کور غوندې دی اودملتونوفرهنګی اواجتماعی‌تعلقات ورځ په ورځ زیاتیږی، اوس دهـرچاغږ دبل غـوږته رسیږی اوناآشنا آوازونه له یوبله آشنا کیږی، هره ژبه له بلې نـه څه اخلی اوڅه ورکوی، داولسونو دګډ ژوند سیاست په ژبو باندې هم تاثیر لری اوپردی لغتونه خپلیږی، هغه وخت چه هیوادونه یوله بله ډېرلری وو او اولسونه به یودبل په ژبه نـه نه پوهیدل بیاهم په ژبو کښې دخیل کـلمات موجـودوو اودلغاتو په نړی‌کښې معرب،مفرس، مفغن الفاظ پیداشوی‌وو، نواوس داځنګه کیدای شی چه په پښتو ژبه کښې دې پردی لغات نه وی. هغه نوی معنی‌ګانی اونوی‌مفهومونه چه په‌جهان کښې اوس را پیداکیږی طبعاً پـه پښتو کښې نوم نـه لری اودانشی کیدای چه ټولوته دنوو اختراعاتو په شمول‌په پښتو ژبه کښې نوی نومونه پیدا کړو .

که څوك په دې فکر کښې وی چـه مونـږ دې له نورو

ژبونه څه نه اخلو او يوازې پښتو لغتونه دې استعمالـوو ددې معنی داده چه خپله ژبه دې محدوده وساتو او خپل فرهنګ دې په ډیرابتدایی حال پریږدو، دافکر باید له مغزونه وباسو

او هیڅ کله داونه غواړو چه په پښتو کښې دې دخیل او مغغن کلمات نه وی مګر ددې معنی دانه ده چه مونږ بهدپښتو موجود اومستعمل لغات غورزووا وپه ځای به یې پردی لغات بی ضرورته خالی دتفنن دپاره راوړو، ځکه چه داکار ژبې ته زیان رسوی بلکه ژبه دزمانې په تیریدو له منځه باسی ...) .

دپورته اوږدې وینانه داسی نتیجی په لاس راځی :

۱ـ دافغان ملی ژبې جوړښت اوانکشاف دخپلو خاصو شرطونو لاندې منځ ته راغلی دی، یعنی په تیره زمانـه کښی دځینی علتونو له کبله دغه دپښتو انکشاف سستؤ اویوعلت یې داؤ چه دمملـکت اقتصادی وضعیت خراب ؤ، بل داچـه دپښتنو قبایلو په منځ کښې دبې پروایې اوبیلوالی پخوانـی عادات موجود ؤو، دریم داچه دنونسم قـرن پـه آخر کښې

استعمار پښتانه دوه ټوټې کړل او بل داچه يوازې دفارسي ژبې نه ددولتي ژبې په حيث استفاده کيده .

۲ـ په اوسني وخت کښې د حکومت يولړ اقدامـاتو دبادشاه د ۱۹۳٦ کال فرمان چه پښتويې ددولتي ژبې په حيث اعلان کړی ده، دمملکت داقتصادي او کلتوري چارو پرمختګونو او دپښتنو بيداری ـ دې ټولو علتونو په کافي اندازه دپښتو رواجېدوته پراخي ورکړی ده .

۳ـ داقتصادي او کلتوري ګړندي جريان له کبله دپښتو ټولي لړی اونژدی سيمی سره په تماس کښې شوی دی چه دې کار په زياته اندازه سره دپښتو ادبي ژبه او لهجې يـې يوتربله سره نژدې کړی دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دوهمه برخه

# پښتو ادب

دافغانستان ادبيات دډېرو پېړيو په اوږدو کښې په دوه ژبو پښتو او فارسي مخ په وړاندې تللي دي اوپه دواړو ژبو کښې پخوانۍ عنعنې اوذخيرې لري .

پښتو ژبه ډېر وخت دولتي نه وه نوځکه يې دتحريري ادبياتو دانکشاف په لارکښې ستر خنډ موجودؤ. هو! پښتو دفولکلور اوشفاهي آثارو له حيثه پوره غني ده او تــراوسه پورې افغاني ليکوال او شاعران د دغه فولکلور نه استفــاده کــوي .

دنوي ادب اساس اوبنسټ دشلمې پېړۍ په سر کښې

کښېوود شو، دغه وخت په افغاني ځلميانـــو کښې اجتماعـــی حرکت اونهضت پيدا شوی ؤ، ددغو افغاني ځلميانو دحرکت مشر اوايديالوګـــک محمود طـرزی ؤ (۱۸۶۷ ـ ۱۹۳۵)، دی يووتلی اجتماعي شخص،عالم اوليکوال ؤاودذهنونو دروښانولو تبليغ يې دسراج الاخبار په پاڼوکښې کاوه .

محمود طرزی او همدارنګه دده شاګردانو اوهمکارانـــو لکه غلام محی الدين افغان (۱۸۹۱ ـ ۱۹۲۱)، عبدالهادی داوی (۱۸۹۵)، صالح محمد (۱۸۸۸ ـ ۱۹۶۰) او نورو دنوی فکر اوبيدارۍ اساس ايښی دئ، دوی غوښتل چه افغاني ټولنــه دجهاني کلتوری دترقۍ اودعلم اوپوهې دپرمختګ څخه خبره کړی، دوی دمعارف اوعلم خواته خلك رابلل، دملی حاکميت دمفکورې طرفداری يې کوله اود افغانستان دپاره يې سياسی خپلواکی غوښته .

دپښتو بديعي اوهنری نثر په افغانستان کښې دشلمې پيړۍ پــه سر کښې راپيدا شو، ددغه نثر مـوسس مولوی صالح محمد کنړ کيړی چه په ۱۹۱۶ کال کښې يې يوه مجموعه

(دپښتو لومړی کتاب) چاپ کـړه، دپښتو لومړیو نثرونـو تعلیمی اوتبلیغی رنگ لاره .

په ۱۹۱۹ کـال کښې سیاسي خپلواکـۍ او اقتصادی اوکلتوری اصلاحاتوله راتلونکی ادب‌سره چه دوخت‌دغوښتنو سره سمؤ، پوره کومك وکړ .

په ۱۹۳۱ کال کښې دپښتو اوفارسی ادبیاتو دانکشاف په غرض په کابل کښې یوه ادبی ټولنه جوړه شوه، په ۱۹۳۲ کال په هرات کښې ادبی‌کلوپ پرانستل‌شو اویوکال‌وروسته په کندهار کښې دپښتو ادبی ټولنه جوړه شوه .

په ۱۹۳٦ کال کښې ددولت دمخصوص فرمان په اساس پښتو دافغانستان دولتی اورسمی ژبه شوه چه‌دې کار دژوند په ټولو اړخونو کښی دپښتو دعاموالی اوپراختیا سره‌په‌زیاته اندازه کومك وکړ، له دغه وخت نـه راهیسی پښتو ادبیات په تېزۍ سره مخ په وړاندې درومی، ډېرې قصی‌پکښې چاپ شوې چه اکثره یې عبرتی رنـگ لری او دژوند سره نژدې تماس لری .

دافغانستان اوسنی ادب په هیواد کښې دلیکوالو ملـی ایدیالوژی څرګندوی،په دغه ادب کښې دوطني میني،داستعمار دمخالفت اودفکرونو دروښانتیا سره سره ملی مفـکوره هـم موجوده ده .

په افغانستان کښې دادب تر ټولو خپره اوزیاته نوعه اشعار دی اونثر دتشکیل اوجوړېدو په حال کښی دی،په نثر کښې مهم ځای قصو نیولی دی، همداراز منثـور ادب وسعت پیداکړی دی اوپه دې وروستیو کلونو کښې اجتماعی نکلونو اودژوند داستانونو مهم ځای نیولی دی.

په اوسنی ادب کښې مختلف بدیعی اوهنری جریانات اوتمایلات موجود دی، له دې جملې نه پــه یوه جریان کښې کلاسیکی، رومانتیکی اوریالیستیکی عناصر شامل دی، ددغه جریان نمایندګان هغه ډېر مشهور لیکوال اومنورین دی .

ددې وروستیو کلونو په ادب کښې په ښکاره ډول سره دریالیزم او واقعیت بینۍ خواته تمایل لیدل کیږی.

خورا لوی اوسنی لیکوال ادبی ډګرته دیرش پنځه‌دیرش

کاله وړاندې داخل شوی دی، ددوی دآثارو هدف دادی چه دهیواد دمنځنیو پیړیو وروستهوالي اود ملاکې اغیزې لهمنځه یوسي او هم دپوره دیمو کراتیکـې ټولنې په شرطونو کښې دنوی ژوند آرزو لري .

دافغانستان داوسنی ادب لـه مشهورو لیـکوالو څخه عبدالرؤف بېنوا دی، دی شاعر ، لیکوال، ډرامه لیـکونکی، دفولکلور جمعه کوونکی ، دکلاسیکی اشعارو پلټو نـکی،ادب پیژندوکی اودتاریخي څېړنو مولف دی .

دده په آثاروکښې ترټولو مشهوراثر د(پریشانهافکارو) سلسله ده چه دشعر اومنثور شعر پـه لباس کښې منځ تـه راغلـې ده، داسلسله دافغانی مطبوعاتو په پاڼـو کښې پـه (۱۹۴۷ ـ ۱۹۴۹) کښې چاپیده اوهم په ۱۹۵۷ کال کښې په جلا ټول سره چاپ شوه .

په ۱۹۴۷ کال کښې دده یوه ډرامه (د کلورنځور) چاپ شوه، په ۱۹۵۸ کال کښې دده یوخوځوونکی ډرام(زوړگناهگار) چاپ شو چه اوسنی افغانی ژونـد یې څرگنـداوه اوتنقیدی رنگ یې درلود .

دبینوا په نثری آثـاروکښې (دزړه خواله) هم شهرت لری چه په ۱۹۵۸ کال کښې چاپ شوی‌دی. بینوا په۱۹۱۳ع کال کښې زیږیدلی دی .

د اوسنی ادب بل لوی لیکوال گل‌پـاچا الفت دی .دی په مفکوره، زیباپسنـدی اوښایست خوښونـه کښې دبینوا سره ډیر نژدی دی، دی‌که له یوی خوا شاعردی له بلی‌خـوا زبردست لیکوال هم‌دی، دپښتو ادب په سبکونو اوتاریخ‌کښې دده آثار ډیر شهرت لری، په شعرکښې دده‌دری آثاره چاپ شوی دی (دپسرلی نغمی ـ ۱۹٤۱)، (غوره اشعار ـ ۱۹۵۵) او (دزړه وینا ۱۹٦۲) اوهم په نثرکښې ډیر تالیفات لری .

الفت ترټولو زیات دفلسفی اشعـارو ښښتن دی، دده داشعارو په وروستی مجموعه (دزړه وینا) کښې یـوه نـوی موضوع نظرته راځی چه هغه دسولې آرزو اودملتونوپه منځ کښې ددوستی ټینگول دی. کـه څه هم دالفت شعر زیـات تخیلی اوتفکری دی مگر اساساً وطنی احساسات‌ښکاره‌کوی.

غوره نثرونـه چـه دلیریك آثـارو یوه وړه مجموعه ده

دمنثور ادب نوعې‌ته منسوبه ده، ددې مجموعی زیاته برخه دشرقی عنعنې په تمثیل لیکل شوی ده چه اوسنی موضوعات ورداخل شوی دی .

دالفت دآثارو ممیزه داده چه زیات‌یی تنقیدی رنگ اوهدف لری، دی د بی‌سوادی او ناپوهی په مقابل کښې نشریات کوی اواجتماعی بې‌عدالتی اوبې انصافی سره جگړه کوی .

دی په دی عقیده دی چه باید تنقید دهغوکونینو غوندې وی‌چه خوږ پوټکی لری. دالفت دتولد نیټه (۱۹۰۹) ده .

په اوسنی ادب کښې قیام‌الدین خادم هم ځرگند مقام لری. دی‌هم لکه بینوا اوالفت یوازې شاعرنه دی بلکه لیکوال، ادب پیژندوکی او بشر پیژندونکی دی ، ده د خپل سفر مشاهدات (خوورځی په شمالی کښې) په ۱۹٤۱کال‌په اصلاح کښې په مسلسل ډول خپاره کړل، په دغومشاهداتو کښې په ربښتیانی ډول سره افغانی ژوندتمثیل شوی‌دی، په هماغه کال دده یوه مجموعه (نوی ژوند) چاپ شوه، په دې مجموعې

کښې مضامین، منثور شعر اواشعار ځای شوی دی .

دده دآثارو وروستنی مجموعه (خیالی دنیا) په ۱۹۶۰ کال کښې چاپ شوې ده، دخادم په آثارو کښې دوطن دوستی او فرهنګی موضوعاتو سره اجتماعی موضوعات هم لیدل کیږی .

داوسنی ادب دمشهورو لیکوالوپه ډله کښی صدیق الله رشتین هم دځرګند مقام خاوند دی. ده دخپلو آثاروپه لومړیو کلونو کښی په عشقی اووطنی اشعارو پیل وکړ مګروروستهیې په زیاته اندازه وطنی اومحیطی موضوعاتوته مراجعه وکړه اوقوی نثر لیکونکی وګرځید، په ۱۹۵۱ کال کښې ده دقطغن ولایت ته سفر وکړ اوخپل مشاهدات اولیدنی یې دسفر په خاطراتو (دقطغن لیدنه) کښې ثبت کړې، ددې خاطراتو په وسیله دلومړی ځل دپاره په پښتو ادب کښې دکاریګرې طبقې ژوند ښودل شوی اوتمثیل شوی دی .

په ۱۹۵۵ کال کښې رښتین یو کتاب (دهند سفر) چاپ کړ، په دې کتاب کښې ده دهندوستان اونږدی اومنځنی

ختیځ مشاهدات بیان کړی‌دی، دی‌دډیروآثارو څښتن‌دی،دده دتولد نیټه ۱۹۱۷ کال ده .

سیدشمس‌الدین مجروح اساساً دشاعر په حیث شهرت لري، دده اکثر اشعار په نشراتي خانګو کښي چاپ‌شوی‌دی. په ۱۹۵۸ کال کښي دده داشعارو یوه وړه مجموعه چاپ‌شوه چه اکثرویي فلسفي رنګک لاره، دمجروح پــه اشعارو کښي وطني اوملي آهنګونه هم شته اوادبي خوایي پوره قوی‌ده .

ډیر شاعران چه په خپلو ژوندیو اشعاروکښي دپښتنو شجاعت اودخپل هیواد پخواني افتخار ستایي اواستعمارچیان رټي‌منځ‌ته راغلل چه ددوی په منځ‌کښي ملي شاعر ملنګک‌جان وتلی دی (۱۹۱۹ ـ ۱۹۵۷)دده‌داشعارومجموعه (خوږی‌نغمی) په ۱۹۵۸ کال‌کښي چاپ شوه،ده په خپلو ویښوونکواشعارو کښي خپل ملت ستایلی دی، دپښتنو نارینتوب یي بیان‌کړی دی، ددوی اخلاقیي ستایلی‌دی، ددوی ذاتی کــلتوریي بیان کړی دی .

دوطن دوستی موضوع دځلمی لیکوال غلام‌غوث خیبری

په آثارو کښې هم تمثیل شوی ده. دده قصې اساساً هغه واقعات او پیښې څرګندوی چه د(انګلو ـ افغان) په جګړو پورې مربوطې دی .

(طوفان ـ ۱۹۵٤)، (دوینو داغونه ۱۹۵٦)، (داورلمبې ۱۹۵۷)، (د ریمه شپه ۱۹۵۸)، (دخیبر توفنګ داران ۱۹۵۵) او (قهرمانان مړه کیږی ۱۹۵۸) دا پورته آثار خیبری ته منسوب دی. دده دتولد نیټه ۱۹۳۰ ده .

دمحمددین ژواك، سلیمان لایق، محمدګلاب ننګرهاری اوعبدالله بختانی آثارهم په نوی ادب کښې څرګند ځای لری.

دژواك په یوه قصه کښې چه ( دتـوان وروستی شپه) نومیږی دیوی بزګری کورنۍ تراژیدی تمثیل شوې ده .

دبزګرانو موضوع په څرګند ډول په افغانی ادب کښې روانه ده اودلیکوالو په آثارو کښېې یومهم ځای نیولی دی، ددې جریان لیکوال په‌ربښتیا سره‌اوسنی‌افغانی ژوندابرسیره کوی اودریالیزم دانکشاف دپاره زمینه اوشرطونه برابروی، ددوی توجه ددهقان اوځمکوال شخړوته اوښتی ده، پـه دې

سلسله کښې نورمحمد تره‌کی په ۱۹۵۱ کال‌کښې دوه نثری
آثار (دغوبی لاندی) او (دادی خدمت) ولیکل،دده آثارددهقان
اوبزگر ژوند ښکاره‌کوی،ده‌په ۱۹۵٦کال کښی‌د(درې‌خواړه)،
(دصمد مور اوپلار)، (زماقسمت) او (دکورگته دلاهورگټه‌ده)
قصې ولیکلې اوهم‌یې په ۱۹۵۸کال کښې(دبزگر لور)اونورې
قصې چاپ‌کړې. دتره‌کی‌مشهوراثر (دبنگ‌مسافری) نومیږی،
دا اثردوه امتیازه لری‌یوداچه دژوند په مواردوپوره‌احاطه لری
اوبل دمولف حالات ښه څرگندوی، مولف کوښښ کوی‌چه
په رښتیانی ډول سره دافغانستان دزحمت کشو اوبې‌وزلو
خلکو ژوند ښکاره کړی .

څلمی لیکوال ډیر څله اخلاقی مسایلوته هم‌رجوع کوی،
عشقی موضوع معمولا په خواخوږۍ اوډیر حساس‌پلان‌کښې
دبحث لاندې راځی، تقریباً ټولې‌قصې دمعتبری‌کورنی‌دپیغلی
سره دغریب څلمی تراژیدی اوغمناك عشق بیانوی .

عبدالرحمن پـژواك دډیرو اشعارو، ډرامو اونـاولونو
مولف دی، داآثاریې په پښتو، فارسی اوانگلیسی ژبوباندی

دی، ترټولو زیات دده بدیعی هنر اواستادی په هغو ناولونو

کښې ښکاره شوې‌ده چه اکثرې فولکلوری موضوعات‌وړاندې

کوی لکه (دبست شهزاده)،(رودابه اوزال) او(درېسره‌مین).

دده د (دخترکوچی) په نـاول کښې شاعرانه ښېگـڼې،

دتشبیه‌گانو اوتمثالونو ښه والی، په بلیغ ډول سره د ملـی

رنگونو اظهار اوداهنگونو جوړښت په څرگندډول ځان‌ښکاره

کوی، دغه ناول په انگلیسی، فرانسوی، روسی اوعربی ژبو

ترجمه شوی دی اوبین‌الاقوامی نوم‌یې گټلی دی .

دپژواك آثاردصوفیانه‌آهنگونونه‌هم خالی‌نه‌دی (وجدان).

دپژواك په آثارو کښې لوی ځای دوطن‌دوستی موضوع

نیولی دی، لیکوال‌دغه موضوع په اساسی‌ډول سره‌په تاریخی

مواردوکښې فیصله کـوی، دده دوه شعری ډرامـی (قرض)
په فارسی ژبه او (کلمه داره روپی) په پښتودهیواد تاریخی
سابقه راژوندی کوی .

دپژواك دتاریخی آثارو مخصوص صفت دادی چه مولف‌خپل

فکر دواقعاتو اوپیښو ظاهری‌اړخ‌ته نه بلکه دقهرمانانوتاثراتو
اوغم گاللوته متوجه کوی .

دقهرمانانو روحیاتو اوداخلی نړۍته په ژوره توګه دورننوتلو آرزو دپژواك دتهولو آثارو امتیاز دی، خصوصاً داآرزو دده په وروستنی مهم اوفیلسوفانه ناول (اواره)کښې په ښه شان ښکاره شوې ده، داناول په ډیروژبو ترجمه‌شوی دی اودافغانستان نه دباندې ډیر شهرت لری، داناول‌په زیاته اندازه سره دمولف بیوګرافی ده .

دپژواك لوی موفقیت دادی‌چه دی دحقیقی اوواقعی رمان جوړولو قدرت اوصفت لری مګر دده دناول قهرمان عام فهمه نه دی، داکوم سطحی قهرمان نه دی بلکه هغه سړی دی چه لوړ افکار اوعالی احساسات لری، دداسی تصنیف جوړول دافغانستان دادب په انکشاف کښې مهم ګام دی .

دپژواك نه علاوه دفارسی ژبې نورو اوسنیو لیکوالو محمدقدیر تره‌کی، سلجوقی، سهیل، رشتیا،کهزاد اونوروهم شهرت ګټلی دی .

په شوروی اتحاد کښې دافغانی ادب د آثارو ترجمې له ډیرو کلونو راهیسی په مستقل ډول سره چاپیږی، په

١٩٥٥ کال کښې دوه مجموعې (افغاني اشعار) او (افغاني قصې) چاپ شوې دي، دانتخاباتو په مجموعه کښې (دآسیاشاعران) دبېنوا اونورو آثار معرفي شوي دي. په ١٩٥٥ کال په تاشکند اودوشنبې کښې د اوسنیو افغاني لیکوالو آثـار په ازبکـی اوتاجکي ژبو چاپ شوي دي، په ١٩٦١ او ١٩٦٢ کلونو کښې د افغاني قصو دوه مجموعې (زرغونه) او (پېټ پهلوان) چاپ شوې دي، په ١٩٦٢ کال کښې شوروي لوستونکي (دافغانستان دشاعرانو نظمونه) ترعنوان لانـدې مجموعې سره آشنا شول برسیره په دې په ١٩٥٩ کال کښې دماشومانو دپاره دافغاني قصو یوه مجموعه (ؤ، نه ؤ) نشر شوه، دالفت، بېنوا، بختاني او درشاد داشعارو ترجمې دشوروي مطبوعاتو په پاڼو کښې چاپ شوي دي .

یادونه : ددوهمې برخې په ترجمه کښې لـږ تغیرهـم پېښ شوی دی .

.................................

# دښاغلي اسلانوف لنډه پېژندنه

دی دفلالوجي علومو ډاکټر اودشوروی اتحاد دعلومو داکاډیمۍ غړی دی .

ده په کابل کښې په شوروی سفارت کښې یوه دوره ماموریت هم کړی دی اوپښتويې په افغانستان کښې زده کړې ده .

اسلانوف دلوی (پښتو روسی قاموس) مؤلف دی، داقاموس پنځوس زره پښتو لغتونه لری‌چه په روسی ترجمه شوی اوچاپ شوی دی .

ده دروښانیانو په دوره باندې یوه رساله‌هم لیکلی ده، په دې اثرکښې دپیر روښان کارنامې، مجاهدی، دده کورنۍ اوملګری، دده دکورنۍ ادبیات، دخیرالبیان دمتن خصوصیات اوددغې سلسلې نور معلومات راغلی دی .

ښاغلی اسلانوف د (پښتنی فولکلور) نومې رسالې مؤلف دی، دارساله دده دخوکلونو دزیار نتیجه ده، په دې رساله کښې دپښتنو دملی اوشفاهی آثارو خصوصیت‌اومزیت

بیان شوی دی. داپه حقیقت‌کښې هغه فولکلور دی‌چه دپښتنو دژوندنه راوتلی دی .


ښاغلی اسلانوف دختیځ پوهانو په ډیرو کانګرسونـو کښې دپښتو ژبې په باره کښې معلومات وړاندې کړی‌دی .

دی په شوروی دوره کښې لومړی سړی دی‌چه دپښتو داستادی حیثیت یې موندلی دی. ده په شوروی کښې ډیرو ځوانانوته پښتو ورزده کړې ده .

دده په شاګردانو کښې دوریانکوف، لیبیدوف، ګیرس، پیغله لود میلا، اوپیغله کلینینا په پښتوکښې پـوره نوم او شهرت لری اوډیرو آثارو خاوندان دی .

ښاغلی اسلانوف دپښتو اوپښتو ادبیاتو په بـاره‌کښې ډیره مطالعه اوخیړنه کړې ده چه ترټولو لوی کاریې د(پښتو روسی لوی قاموس) دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



نباغلی اسلانوف

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دمېرمن ګیراسیموو النهه پېژندنه


مېرمن ګراسیمووا دمسکو دعلومو داکاډیمۍ د آسیایي ملتونو په انستیتوت کښې کار کوي. دې مېرمنې د ښاغلي ګیرس سره یوځای دستاژ دوره داستاد اسلانوف تر نظر لاندې تیره کړې ده .

الیوتینا ګراسیمووا دپښتو دختیځپېژندنيپه انستیتوت کښې مطالعه کوي، اویوزیات شمیر مقالې یې د افغاني ادب په شاوخوا کښې لیکلي اوخپرې کړې دي: لکه دپښنوا په اشعارو کښې دوطن پرستۍ موضوعات، په افغاني ادبکښې داجتماعي مساوات موضوع ، په پښتو ژبه کښې مشروطي جملې.دېمیرمنې دهغه کتاب په لیکلو کښې هم زیار ویستلي دیچه (دافغانستان ادبیات) نومېږي ، ګیراسیمووا اوس دمعاصر افغاني ادب په باره کښې خپل علمي اثر لیکي .

* * * * * *

PROPERTY OF ACKU 1491

(c) ketabton.com: The Digital Library



معتمد شینواری ددې اثر مترجم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# THE NATIONAL LANGUAGE

# OF

# AFGHANISTAN

PASHTO ACADEMY

1968

دولتی مطبعه

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**